0794 90 26 96

بسم الله الرحمن الرحیم

# په کچکول کې مې د خپل وجود ايرې دي

ثناء الله جان همدرد

ژوند مې له توري شپې را پیل، په تیاره کې تمام
لکه چې توان د روښنایی، شي په ډیوه کې تمام

اوس له ملګرو هم ویرېږم چې دوکه رانه کړي
د یارۍ تاب مې ستا د لاسه شو په زړه کې تمام

خدایه نو خامخا ارمان یې د ژوندون پوره کړه
د دعا ټکي لېونی کړل په لمانځه کې تمام

د جینۍ اوښکې د بیلتون له درده تللي په مخ
ګڼې لوګی تر اوسه نه دی تناره کې تمام

بیا به زمونږه افغانانو غونډې خوار و زار وي
د سر سړي مه شه د کلي په کاله کې تمام

خدایه که ژوند د محبت پیغام وي زه همدرد خو
نو محبت ته وزګار نه وم ژوند شو څه کې تمام؟

دا خو واضحه ده چې خان تللی له ځانه نه شي
د تلو غږ د هر کوي خو بیا هم مګر روانه نه شي

سپوږمۍ هم نه وه نو بیا څنګه دنیا وپیژنو
سرې نو ولې بیا په سترګو بدګومانه نه شي

ملا ته حق وایې منم، خو ته یې هم ومنه
چې زندګي د بې ملګریه بې جانانه نه شي

زه د مورکۍ په دعاګانو باندې شک نه کوم
خو دا خو ژوند دی بې له تا او بې جانانه نه شي

سندرې نه اورم خو درد مشغولوم وریاندې
خواني جنون دی بې تپې او یاقریانه نه شي

ته چې مې زړه غواړې د زړه تاوان به هم قبلوې
تاته معلومه ده چې ګټه بې تاوانه نه شي

پرون همزولو ورته لاس باندې نکریزې کېښوې
لېونۍ غږ کړو د همدرد نښه مې ورانه نه شي

بې تا مې ساه په تن کې وه لېکن ژوندی نه ومه
چې زړه مې نه وو نو زه هم د چا زړګی نه ومه

که ته مَره مې یې له مینې، که د نوم واخیست ما
زه به پښتون نه ومه، زه به هم سړی نه ومه

هغه د تورو شپو د ستورو خاموشي خپل دې وم
ولې د مخ پټ کړو نو زه خو څه پردی نه ومه

پرون چې نجونو د یارانو صفتونه کول
تا پکې بل یاد وو او زه د پکې ځای نه ومه

تا به دې سر ته زور کړ، ما به دې ځیګر ته زور کړ
خو نیکبختي دې ده چې زه دې ستا منګی نه ومه

مسافرۍ کې هم په خدای چې عجیبه حالات وو
همدا همدرد ومه، مزدور ومه، لالی نه ومه

ستا د راتلو کیسه اختر ده په اختر کې اختر
جانانه څنګه د کړو نن په ماذیګر کې اختر

لکه بې موره خوارکی یتیم بې څوکه یتیم
همداسې وي د مسافرو په سفر کې اختر

دلته دې نه راځي ښادي راسره بده ښکاري
هېڅوک هم نه لمانځي اشنا څوک په محشر کې اختر؟

کاشکې چې خان او غریب دواړو وي یو ځای لمانځلي
کاشکې نیولي وي بېوزله هم نظر اختر کې

خدایه که موږ ته دې رېښتیا هم را پېرزو وي اختر
خدایه بس سوله راوستی شې سم و غرو کې اختر

جانان مې غیږ راکړه همدرده هیڅ ګیله هم نه وه
لکه چې وي دې د بختیانو په کوثر کې اختر

زما که نوم په تا بدنام وي، وي دې
نو داسې خوږ که کوم الزام وي، وي دې

شیخه نن خورم زهر بې دمه بنه یم
دا که حلال وي که حرام وي، وي دې

چې ستا تر ورهٔ هر وخت په تلو مجبور وم
زما که دغسې ناکام وي، وي دې

د چا کوڅه کې تندي ږدمه ورته
دلته که خدای وي او که رام وي، وي دې

لږه شوخي کړه راسره شوخ غوندې یم
که خاموشي د احترام هم وي، وي دې

همدرد پدې عذاب ککړ بنه یمه
چې بس یو تاته مې درپام وي، وي دې

درد مې بې تا يوازيتوب کې نه پرېږدي يوازې
لکه ماشوم، مور ماشومتوب کې نه پرېږدي يوازې

لکه دا زه چې بې تا مړ هم نه ژوندی هم نه يم
نو داسې څوک بيا مئينتوب کې نه پرېږدي يوازې

تا د دې خپلې هم زما د خوانۍ واخيست ازار
يار جينکی په پيغلتوب کې نه پرېږدي يوازې

را باندې هيڅ چا پام ونه ساته، خو وخت به غوارم
خپلوان سرې په ليونتوب کې نه پرېږدي يوازې

زما د مور شفقت هوبهو د خدای شفقت
چې مې لااوس هم زلميتوب کې نه پرېږدي يوازې

همدرده اوس هم بنايې نيم سړی يم، خکه گني
خلک مې ولې سړيتوب کې نه پرېږدي يوازې

مره چې پيغله ښاپيرۍ د زنده ګۍ ده
راته غوټه يې مرۍ د زندګۍ ده

ستا د سترګو د بانو په دايره کې
دا محدوده مې نړۍ د زندګۍ ده

سر د څمکې تول د وينو رنګ اخيستی
جانه زر شه چې سلګۍ د زنده ګۍ ده

دا جينۍ داسې په سرو سترګو چې ژاړي
راتسکوره يې بلۍ د زنده ګۍ ده

د قسمت د نيکبختۍ پاڼې ترې توی شوې
څيرې شوې يې خولۍ د زنده ګۍ ده

زه همدرد په رڼا ورځ يم په تياره کې
مره د هيلو ډېوه ګۍ د زنده ګۍ ده

تا به ليدلي وي چې غم کې سرې سوړ او تود شي
لکه د مني په موسم کې سرې سوړ او تود شي

چې سمه راشي او د زړه حواله دې کړي نه وي
ورك دې شه مړه په زم زم کې سرې سوړ او تود شي

د ځينو خلکو د دريغ پته ونه لګيده
په هو نه، نه او په منم کې سرې سوړ او تود شي

ښوونځي کې ښه وي تر شپږمه فريښته وي سړی
خو په اووم او په اتم کې سړی سوړ او تود شي

همدرده هر چاته ورتلل نو د هر چا کار نه دی
اکثر پيښيږي خپل قدم کې سړی سوړ او تود شي

زه دې په ارمان ښه یم چې ومرمه
ورك له خانه، ځان ښه یم چې ومرمه

لېو کې د ګل په څیر در ومرمه
ښکلیه که باران ښه یم چې ومرمه

زه د دې هوښیارو سره حد کې ښه
زه ورسره وران ښه یم چې ومرمه

ته دلته دمه شه دلته ساه واخله
زه روان روان ښه یم چې ومرمه

ته لکه بې ننګه ذات د ستر غلام
زه پکې وجدان ښه یم چې ومرمه

يه همدرده! سمه تماشه ده نو
ځانته چې حیران ښه یم چې ومرمه

د موسيقۍ غونډې عذاب دی نه او ما ته څه وي
وخې نو دا کيسه چې ستايم خو سبا ته څه وي

ستا د غابښو د ټينګولو له درد نه وايم خو
پر مخ تيکې بريښي، کيسې خوند نه کړي بيا څه وي

چا راته ووېل په سېګرټ دې ولې سوی دی لاس
په ګنډه زړه څه ورته موسك شومه چې دا څه وي

خالي تصوير کې دا چې خاندي لاس يې ايښی پر مخ
ووايه زه د دې څه او دا به زما څه وي

زما ورينداره يې د پلار په کور کې کونډه کړله
دې بدرنګ جنګ کې به د خدای ښکلي رضا څه وي

ته وا د ملا هډوکي نه لري ماتيږي داسې
اتڼ کې دا ميراته څوك، دا به د چا څه وي

لړ راته نور هم وکړه نور هم وکړه اې قربان!
ګلې کنځل ښيرې دې هم لکه دعا څه وي

راشه په سترګو لاس راکيږده په اوږو راڅمله
په لاس مې وچيچه سوك راکړه، نو بيګا څه وي

دا همدرد څه دی دېته زړه مه خوره نن نه دی داسې
نيم ليونی دی په اونی کې خامخا څه وي

زما یاران نصیحت کړي چې واوره تړې نه
دوی مې نشې وینې خو درد او غم مې نه وینې

نه کنه ته د زړه منې زما کیسه نه منې
مور مې غمبورې وینې، زنه وینې، خوله وینې

لکه دغدار ټیکرې مې خپل ارمان کړ پټ د فن
یو خدای مې وینې، بس خو نوره څوک مې څه وینې

چې د ماښام ډک سبګرتې ته بې دینې وایي څوک
خدای د زمونږه خود ازارو درد پرې ووینې

ضرورت نشته چې په ځان دې ورته وغړېږم
حالات چې وینې ډکو سترګو کې مې زړه ووینې

د ژوند ارزښت ته به قایل وي چې پر غږ نه لرې
خرپ د مچکو اورې یو کټ کې دوه غله ووینې

جامه! زه ستا او د جومات تقدس دواړه منم
ښه ده چې بد خلک مې بد او ښه مې ښه ووینې

هغې ته یو خل هم خپل حال کې ورغلی نه یم
هغه چې وینې همدرد هر خلې هغه ووینې

ژوند شاید وشي خو هغسې مې گومان نه کېږي
قسم دې جار شم خو باور مې هېڅ په ځان نه کېږي

لیرې بخیلې خو تېپې خو راته وایه کنه
څه خوړل کېږي نه پرې دې خو دې توان نه کېږي

څه څه دې پاتې، خو څه څه دې چې بې ونه کړل
کوم کوم وحشت و چې د دور له انسان نه کېږي

زه مخه وینم هرې سختې ته کیسه بله ده
وخې کیسه دا ده چې زړه مې په تا جان نه کېږي

تا ته په دې غیرت کې ښه پاتې راغلی یم خو
بې تا یې څه پته بې تا مې په ایمان نه کېږي

ولې مې سترگو ستا په تلو قیامت را نه وستلو
ولې له سترگو نه مې سور د اور باران نه کېږي

اوږده د ژمي شپه او داسې تشه غېږه زما
ته وایه دې وخت کې دې هم د چا ارمان نه کېږي

زه بې خوبۍ چې غولوم نو ځان ته ووایم چې
همدرده نه کېږي بېخي دا کار دی گران نه کېږي

هو دا مې بد خوی دی خو څه وکړم زه داسې یم
چې تش راوخاندي څوک وایم چې بس یار مې دی

هلته وعده وکړي چې مخامخ دریاده مې کړه
کیسه بدله کړي چالاکې وایې کار مې دی

اې زما سترې زنده ګی، ته مې یقین ومنه
ساه اخیستل هم لکه غر د اوږو بار مې دی

زه خو هېڅ نه لرم ته بلکل دغه تیک وایې خو
خو سر کره لرم که و دې غوښت درجار مې دی

ته و خدای یو خل جانه دغه تصویر بیا وښایه
څه یې رایاد کړل، نه نه صبر لږ په کار مې دی

ورور روپۍ راکړې لس شپې بعد یې رانه غواړې بېرته
که ور مې نه کړې نو ملګری ذمه وار مې دی

مرې دا ما ولې دې نه کار ته دی کار ویلی
مینه څوک څه کوي خو بیا هم کاروبار یې دی

بس د پردو میندو په لوږو مې تور زړه نه خوړم
زه هم مړی خوړمه انسان یمه وایه نه خوړم

ت پیره نه کته پرې عیب به مې کار نکړي
شپه مې دوزخ وي مابنامې کې زهر ونه خوړم

درته یادېږي د وروستي رخصت هغه کیسې دې
هن دا تسپې واخله او ستا هغه تصویر دا دی

که پرخیدلې جیګوی نه شي خو و خو زاړه
زما خو عقل فکر وایي چې ضمیر دا دی

خدایه منمه ته پاچا یې او بلکل ته یې
خو له تا بعد چې دی زما د زړه وزیر دا دی

زه چې خراب وم نن مې مور ورته ویل زړل یې
هغه صحنې رایاد شوې ستا د پښو زنځیر دا دی

یعنې چې هسې مې بیا خپل خان غولوم کنه
ستا د کیسې کیسې مطلب دا دی تعبیر دا دی

ته خپه نه شي ماته پته وه چې نه کیږي دا
زه پوهیدمه چې زه دومره او تقدیر دا دی

همدرد جار، ارمان یې جار شه او ودان یې جار
زمونږ مرید مرید ملګری زمونږ پیر دا دی

زه د خپل ذات په دايره کې را ايسار نه يم
وبښې څه که د بار نه يمه خو بار نه يم

حساب ملګرو د بنډار لپاره وکړ خو زه
غربت راوښوده چې زيات يمه په کار نه يم

د بنګو ډک سيګرټ ته ټک ورکړم په کاڼي ناست يم
ولې تېبې کوم چې چاته انتظار نه يم

ستا د قدم حيثيت را ورسيده بلې بلې
لاليه زه نور د وران شوي پله غبار نه يم

وبښه مرګه چې بې وخته مې راوغښتلې
وبښه ژونده نور کيدو ته دې تيار نه يم

حيران شوم ستا په ليدو هم مې تبه پرې نه شوه
ښه بل نو څوک دی چې په تا پسې بيمار نه يم



تش په څکلو د بوسې نه کیږي یار نه کیږي
مرې په دومره لږ ګناه خو زما کار نه کیږي

د سر دوښمن را باندې هم ځکه برلاسی دی چې
ښه ورځ یې غوارم خو له ما ورته ازار نه کیږي

د شپې یوه بجه شوه بیا دې زنګ خواب نه کړ
وبښه لاړم له ما دومره انتظار نه کیږي

مسلماني طبیعت ښه خوند راکوي په خدای
مصیبت دا دی رانه وس د سمې لاز نه کیږي

موږ ته چې هره نجلۍ موسکه شي بس یاره مو ده
د دې ثوابه رانه بلکل نو انکار نه کیږي

دلته لا خلك هم د ژوند په ارزښت نه دي خبر
دلته لا هم متبادل د ګلو وار نه کیږي

همدرده خدای که پر تا زه بدګمانه یمه
یاره غم دا دی چې پر ځان مې اعتماد نه کیږي

زه او ته لکه همزولي دوه مئین یو
یو پر بل باندې تکیه د زنده ګۍ یو

عشقه وایه کنه څه کول په کار دي
ایا اوس هم د دونیا د زنده ګۍ یو

مرګه نه کنه نو دومره نامردي نه
ارمان به ختماً د یو چا د زنده ګۍ یو

راشه بیا مې هغه خپل لیونتوب راکه
چې بیا هغسې شو بیا د زنده ګۍ یو

دا خندا یو دروغجن تمثیل په خپله
ګڼي موږ خپله خندا د زنده ګۍ یو

بس د خپلې همدردۍ هم پر دوښمنو
لپې لپې یو دوعا د زنده ګۍ یو

زه او ته لکه همزولي دوه مئین یو
یو پر بل باندې تکیه د زنده ګۍ یو

عشقه وایه کنه څه کول په کار دي
ایا اوس هم د دونیا د زنده ګۍ یو

مرګه نه کنه نو دومره نامردي نه
ارمان به ختماً د یو چا د زنده ګۍ یو

راشه بیا مې هغه خپل لیونتوب راکه
چې بیا هغسې شو بیا د زنده ګۍ یو

دا خندا یو دروغجن تمثیل په خپله
ګني موږ خپله خندا د زنده ګۍ یو

بس د خپلې همدردۍ هم پر دوښمنو
لیې لیې یو دوعا د زنده ګۍ یو

دغه مایوسي به مې سبب د ځان وژنې وي
څه به کوې چې درته ژوند لکه د بنې وي

خپه کوم یې مګر نیت مې د خپګان نه وي
د لاس ور ورو بهانه جوړه چې د زنې وي

ساه ساه چې اخلم پکې بېل بېل اذیت حس کوم
خدایه! د روح ویستل به دغسې په غنې وي؟

تور یم او تور لباس کې باید خدای ته مخ شمه
زما کفن دې ستا د تور کمیس لمنې وي

ربه دوزخ ښه دی خو نه چې رقیب ووینمه
که په جنت کې وي هغه هم د ښښنې وي

واه چې دې څمکه سکنډېږي او خواب نه درکوي
واه څومره خوند کړي چې یې ماتې درته ژمنې وي

په ژڼو هم خو بیا په پېغلو مې ګُلمې تسیږي
نوم یې هم نشې اخیستی چې پرې مینې وي

هغه همدرد چې یې ملګرو ته خندا ښښله
اوس داسې شوی هر وخت سترګې یې اوبلنې وي

چې ناممکنه وي، ارتيا ولې وي، چل څه وو
مقصد د هغه قسم څه وو او د ګل څه وو

په مخه ښه کې دې په لاس کې تينګولم ولې
ډکو ليمو کې دې ښيرې ښيرې کنځل څه وو

لحظه لحظه کې اوس شاهد د هغه حال يمه
هغه لنډۍ څه وه او ستا هغه متل څه وو

خدايه زه ګرم چې په نشو مې غولولې دې غم
خدايه د ستا سره زما د کيسې حل څه وو

تر دغې حده راسيدلې يم چې نوم دې واخلم
بيا اشتباه شم چې نه، نه وو نوم دې بل څو وو

ته به دې خود عيب پټوې زما په دې بهتان چې
د مينې ور نه وو بيخي هغه پاګل څه وو

د يو همدرد انسان د عشق ثبوت به وينې خو
که ژوند وفا وکړه او خدای راسره مل څه وو

لس گامه پاتې یمه دوه گامه راغلی یمه
روان یم مگر زه ولاړ لکه یو څلی یمه

بیانوي دي پرون ماتې وعدې عذر راته
خوند له دروغو اخلم موسك موسك ورته غلی یمه

خدایه چې ته زما په ذات کې هم یې بیا نو ولې
انسان یم ولې انسان نه یمه ناولی یمه

مرگه هوا د هوس راوړم درته خلی یمه
مرگه ته چیرته یې زه دغه یم راغلی یمه

د جیب خوانۍ د ناوې هم دې د لونګو وي
قدر د دومره د دنګ قدو غنمرنګو وي

اکثریت ښکلي ژنې داسې داسې د بدرنګو نجونو
اکثریت ښکلي جینکۍ هم بیا د بدرنګو وي

دلته یوه کیسه په سترګو کې بغارې وهي
خو ژبه بیا هم د اظهار لکه د ګونګو وي

نقاده مور د چا تصویر دی په لفظونو رسم
الله د مل زیاتي زمونږ بې فرهنګو وي

دا یو ماښام کې یو نیم ګوټ دې په حساب نه وي
یو نیم ماښام کې دې لحاظ زمونږ زړه تنګو وي

همدرده څه که نړۍ ټوله هم جنت وګرځي
همدرده څه د زړه دنیا چې شمار په رنګو وي

تا نه قربان تا سره نه کیږي
او په ایمان تا سره نه کیږي

زه لکه فرش پر خان را رنګ یمه
ته یې اسمان تا سره نه کیږي

افسوس په دې تا سره نه کیږي
ارمان ارمان تا سره نه کیږي

ته یې دریاب څپې څپې څپې
روان روان تا سره نه کیږي

زه ګنهګار او شراب خور انسان
ته مسلمان تا سره نه کیږي

زه دې همدرد زه د مرید یمه
ته مې جانان تا سره نه کیږي

زه مې د خپلو هیلو کوم څلي ته ویر وکړم
غواړم خو نه توانیږم بیا پکې تغیر وکړم

لکه د ذهني مسافر پر جنازه یې خویندې
سر ګریوان وشکوم ماتم دې په تصویر وکړم

په دې خاطر چې سلامت ته ملامت زه شم
وایه څه لوبې درته نورې په ضمیر وکړم

پرته له تا مې زه دا خپل ډک ژوندی چاته تش کړم
پرته له تا شکایت چاته له تقدیر وکړم

د زمانې قضاوتونه سرې اربابي چې
باید د ورور او ورور تر منځه هم توپیر وکړم

دا کنایه چې شاید و هم شي یا ونشي
د دې لفظونو نه دې کوم ډول تعبیر وکړم

مکتب ته څي سرې ته نوې هیلې بیا پیدا کړې
لږ تماشه به د دې نجونو د بهیر وکړم

دوی دې ما پوښتي مګر خدایه زه هم غواړمه
یو څو پوښتنې له منکر او له نکیر وکړي

ولې خوان ووژني او ولې شي مجبور دومره
ولې د ښکلي ژونده زړه شي موړ او تور دومره

ولې مين شي سړی ولې شي واده بل ته
ولې په خپله يو څوک ودې کړي اور دومره

د گلبدن سره پرهرونه دي ډاکټر وګنډي
که سر شکوي مخ وهي مه پرېږدئ مور دومره

خدايزده دا څيني ناليدلي ولې داسې وي
لکه نړدې ملګری ولې يې غم زور دومره

د چا د هيلو د ارمان د جنازې کتنې
پيغلو نيولي دي کوي پرې وير او شور دومره

د څان نه د خلاصون چاره منې خودکشي نه ده
باور په جینې وکړه خو چې دمه پښتنه وي

چې مور یې انتخاب کړو د یارۍ نیت ورته وکړو
هغه تلیفون نه ساتي او سمه پښتنه وي

وخ مه وایه چې څه دې کوي زړه یې نه خوږېږي
وچ وچ زړه یې خوږېږي خو بس غمه پښتنه وي

دا ختیه پښتانه ده له ادمه تر دې دمه
او دا به له دې دمه تر عدمه پښتنه وي

یوه نیمه د نر سرې په خیر وي لکه ته
یوه نیمه په سلو کې منمه پښتنه وي

هغه هم غریبو نیولي ضد نیولي وي ولاړه
او زه هم مرور ور ځنې ځمه پښتنه وي

مرمۍ تا چې وژلې وي هغه زلمي پښتون وي
او تا چې کونډه کړې وي نو بمه پښتنه وي

هر ليونتوب همدومره او مينتوب همدومره
نه سرېتوب همدومره او سرېتوب همدومره

بس ايله ويره ويره حراميتوب همدومره
د خدای جنت همدومره، د خدای مکتوب همدومره

چار د روژې د ګرمی، د روژې خوب همدومره
ستا پيغلتوب همدومره، زما زلميتوب همدومره

خپل زړه په بل چا سپارل، کم عقل توب همدومره
دا ساده توب همدومره، دا ماشومتوب همدومره

زما بار بار غوښتنې، زما زاری همدومره
ستا بخيلتوب همدومره او ستا شامتوب همدومره

هم له ساقي نه قربان او هم ملا ته سلام
مسلماني همدومره او بيا خرتوب همدومره

تاسره څه غم دی او څه مې کوې ته چې ولې
مره خو بس کړه دا کيسه څه کوې ته چې ولې

دواړه منين يو پر يو بل، نو ولې بيا دومره توپير
زه خو وژلی يم ژوند، ته نو دومره ښه چې ولې

نور خو زه نه پوهيږم مينه به وي څه شی به وي
خو تا چې وينمه، ومې ريږي زړه چې ولې

خدای هم ستا حسن کې کاملاً ريا کړې ده
خو بيخي خاص د زنې خال دې او بانه چې ولې

همدغه قوم دی چې مړ شوی هم دی پر هم دی
سبب يې مه پوښته چې دا څنګه ويده چې ولې

ژوند لکه سوالګر نیکه ته پاتې یتیمان د زوی
داسې راتر غاړې دی د ورو د پرېښودو نه دی

مه مه مسلمانه بیا په ګپ کې د تګ مه وایه
دا ژوبل تنکی پرهر د بیا راویښیدو نه دی

زړه کې خو اکثره لېونو ودانې جوړې دي
څوك وايي دا ښار د لېونو د اوسیدو نه دی

دومره توهین هم د انساني کرامت خوند نه کا
هو چې هندو دی مګر په اور د سوزیدو نه دی

دا بنګړي بنګړي زړه که دې په کار وي نو هن قربان
کار به د پرې ونه شي د بیا ماتیدو نه دی

ګرم یم خو چې دا ډول څوك ګرم شي نو بیا نه دی ګرم
لمونځ او کلیمه مې دی او هیڅ د پرېښودو نه دی

را به دې کړي صبر یو خو تا خوله پورې کړېده
څوك وايي چې دا کار د کیدو او د کیدو نه دی

اوس له غمه نه خو تبلېتکه او نه شراب څښي
ښه دی همدرد دومره خو لیکن د روغیدو نه دی

کاڼي په کاڼي وولم وخاندم روان شمه
نوم دې په جهر واخلم تاو راتاو له ځان شمه

ملا د څو ورځو ښځنتونه مې په يو ځل وځبنل
ګوندې راوګرځمه بيا ځان ته انسان شمه

داسي مې پرېږده لکه پرېښودم د وخت يارانو
يوازېتوبه چې جمله په ځان تاوان شمه

څوک چې د مينې په نوم ګل راته رامخې ته کړي
مخ ترېنه وګرځوم سر ټيټ کړم حيران شمه

د چهار شنبې هر ماخوستن مې د ارمان جنازه
هغه صحنه شي، ته شې، زه شمه ان ان شمه

بيا به ملګرو ته وته وايم چې جار دې شمه
هيچا ته نه وايم چې وخ له تا قربان شمه

چې د بې وسو لېونو مئينو خپل ومه
زه دې ودان نه شمه زه دې بيابان شمه

اخر تر کمه د رواج لاندې محکوم داسې
همدرده دې تکي ته خدايزده پرېشان شمه

مست د دې خوانۍ په ځېر اوبه اوبه غومبري
واه د ښاپیرۍ په ځېر اوبه اوبه غومبري

دي د پیغلتوب په ځېر اوبه اوبه غومبري
شوخ دي د خوانۍ په ځېر اوبه اوبه غومبري

ګرم د هوس په ځېر اوبه اوبه غومبري
دي د لیونۍ په ځېر اوبه اوبه غومبري

نرم لکه شونډې دي اوبه اوبه غومبري
وخ نو د کوکۍ په ځېر اوبه اوبه غومبري

دا جینۍ کتمټ لکه اوبه اوبه غومبري
دي که د جینۍ په ځېر اوبه اوبه غومبري

دي یې د غزل په ځېر اوبه اوبه غومبري
جار د شاعرۍ په ځېر اوبه اوبه غومبري

هسې نه تږوله د ژوندون تکیه مې رنګه شي
خدایه زما او د هغې کیسه به څنګه شي

د جینۍ دا حیا او دا ناز او غرور خوند کوي
چې څه ترې غوارې در یې کړي خو مګر ګونګه شي

ته وا ګلونه د سپرلي له ګرمۍ مړاوي ښکاري
ولې سپین وتبښتي غومبري دې بې رنګه شي

همدرده مینه د پښتو مبنتو خاطر نه کوي
که میینیږي څوک اول باید بې ننګه شي

په طلایي لفظو یې مسته زرګري کړې ده
یوې جینۍ خپل خانته ورته شاعري کړې ده

له بده مرغه تا په داسې وخت کې وویل چې
له بده مرغه چې مورې دا خود ازاري کړې ده

دا ځینې ښکلي د روژې په تنده نیسي سرې
په ځینو ښکلو کې خدای هم ریا کاري کړې ده

دښمنه زه دا اتو خویندو یک یو ورور یمه
بې ننګه نه یم ما د دوی په روی زاري کړې ده

مور ته ګولۍ مې له ډاکټر نه وې په قرض راوړې
ورته په پور کې مې درې ورځې مزدوري کړې ده

دلته هغوی هم وطن پاله فهمیده خلک دي
چې یې دیوال ته د مکتب هم مرداري کړې ده

زړه مې هم نه ماتوي با وجود د پاکې مينې
بيا هم ځان نه ببني وجدان ته ملامته يې

تا هم د خپل تنکي ارمان زنه په ژوند ترلي
د ژوند سپرلي خزان ته ملامته يې

د جهنم غيږ کې سوړ اور تك شنه جنت اخيستی
د پيغلتوب لحظې ان ته ملامته يې

لکه شيطان خدای ته چې بيا هيڅ د ببنلو ندی
دغسې ته هم يو انسان ته ملامته يې

د زندگۍ له سرشاري ځينې محرومه يې
گته دې ونه کړه تاوان ته ملامته يې

په هوس جبر دې سبب د گمراهۍ وگرځيد
تقوا دې داسې چې ايمان ته ملامته يې

د خپل خولې خولې بدن احساس ته پره يې
زما د هر ځاځکي باران ته ملامته يې

دا څکه وینې وینې زهر خور مشاهد حال یم
لالیه هر ماښام د هغې غم شاهد حال یم

بنګړي د نظرمات کړل چې پر خای د سپیلنو
سخا خو در منم منم منم شاهد حال یم

دا زه به درنه هر ځل نیم راتلم او نیم به نه
تر تا به چې راتلم نو به درتلم شاهد حال یم

همدا نه راکتل دې روح په غنو دې ایستل
مننه چې دې بیا د لوی کرم شاهد حال یم

نه صبر خبریال نه څو خوابه ورکوم
زه بچ یم خو د پیښې او د بم شاهد حال یم

خدای وکړه چې زه نه یم او خدای مه کړه چې زه نه یم
وطنه چې دې بیا د دې ماتم شاهد حال یم

پر ځان مې نن پخپله پرده داسې اچوله
همدرده هو هو نه یې ورته ګرم شاهد حال یم

لکه د خدای قهر د ښار پر ودانۍ تېر شي
چې زړه منلی څوک دې کله له یارۍ تېر شي

اوس د ملګرو سره هم چې کله سېل ته ځمه
چې راستانېږم نو قیامت مې په مورکۍ تېر شي

بس خدایه دا غوښتنه تا ته خو هیڅ هم نه ده
کړای شې چې زړه مې نور د هغې یوې جینۍ تېر شي

نن مې د ښار موچي لیدو وچه ډوډۍ یې خوړه
ګومان مې نه کېږي چې شخوند مې تر مرۍ تېر شي

باید چې ځینې وطن فروش لاس ته بنګړي واچوي
زما دې ومني بېخي د دې لونګۍ تېر شي

هغه همدرد چې اول زنګ به همدې کړ راته
اوس مې چې ویني نو شڼ لکه سیلۍ تېر شي

د ترخو شرابو خامه تجربه یم
زه د خپل ارمان ناکامه تجربه یم

زه د مرګ څومره بې صبره لیونی یم
تا خو څو ځلې مابنامه تجربه یم

مره پرېږده نه یاران شته او نه ورونه
له بنې ورځې تر الزامه تجربه یم

زنده ګی، ته کتمت زه او زه بیا څه
پای د لارې یم تمامه تجربه یم

ما د چم جینکۍ، دیرې په ګل ویشتي
په همدې وجه بدنامه تجربه یم

د ساقي په امامت په لمونځ ولاړ یم
د حالاتو څه حرامه تجربه یم

اوس خو زه ښه وم تا مې بيا خان ته در پام ولې کړ
د ژمي شپې او بې خوبۍ ته مې ناکام ولې کړ

تا سره مينه لرم مينه لرم مينه لرم
څه نا انسان ته مې د خپل غرور ليلام ولې کړ

دا رانه وېوښته چې بيا دې کم يو زخم وېښ دی
دا رانه مه پوښته چې بيا دې غوړپ له جام ولې کړ

مينه دې ختې دې ادم کې ولې واغږله
زموږ تولنه کې دې دا ثواب حرام ولې کړ

ما خو هغې ته د مرګي وه دا نيته ښودلې
زه خو لا مړ نه يم خو خدايه تا ماښام ولې کړ

غمه هغه دې بايد لږ واى دردولې پر ما
غمه زما وجود دې دومره زر تمام ولې کړ

چې دا ما څه خان شرمولی داسې ولې کوم
بيا مې مخپانې ته مخفي کوډ دا ستا نام ولې کړ

ته به مې هر ځلې ښنلې بيا هم نه پوهيدم
او تا پر هر څه به دا نيت د انتقام ولې کړ

ځه بندوبست او اهتمام کوم تانه يادوم
د زړه له درد سره ناکام کوم تا نه يادوم

د ستا د غم ثمره خورمه هم او څښمه يې هم
بس يو يو ګوټ تر هر ماښام کوم تا نه يادوم

ياد د ماشوم سکونډې مې زخم د بيلتون په ستنه
زه لکه ړوند په ځان مې پام کوم تا نه يادوم

لکه کمکی يتيم د مور تصوير کړي زړه ته نږدې
اوس د ښهم دومره احترام کوم تا نه يادوم

نوم به دې واخلم بيا به غلی شم او بيا يې اخلم
نن درته تيوکې په الزام کوم تا نه يادوم

له نن نه وروسته ستا همدرد ګلې بې درده بوله
تا هيروم داسې اقدام کوم تا نه يادوم

نن خو دې غیرت کې رانیسمه ادب نه کوم
بې غمه اوسه مینه هم کوم مطلب نه کوم

د خدای زښت نه یمه خو زه خپله دینداری نه یم
او داسې یمه چې د بدو هم طلب نه کوم

څنګه مشرك به نه یم زه عقیدتاً داسې یم
چې توکل بې وسایلو بې سبب نه کوم

چې په غزل کې به مې هر وخت مخاطب وو راته
خکه د نن نه بعد د هغه مخاطب نه کوم

داسې ورځ بده کړې چې ستا او ماشومتوب زما او ستا
داسې ورځ بده کړې ارمان چې د مکتب نه کوم

زه مې په خپل هوډ د ایمان په څیر باور لرمه
پرمختګونه په لقب او په نسب نه کوم

وبښی بس مسلمانانو زما خپله خوښه
مهربانی ساعت د عجم او د عرب نه کوم

سپين راته ووايه چې کيږي او يا نه کيږي
ته داسې يې چې هم دې زړه هم دې ساړه کيږي

د طبيعت ښکلاوې څه د ګمراهۍ سبب
له هر منظر نظر مې پس ګناه ته زړه کيږي

ما دې مار وچيچي او زه دې خوانيمرګ شمه
که مې پر تا د تکليف زړه د يوه ويښته کيږي

ته نن يو کار وکړه په ګف کې مور ته ووايه
چې څه غبرګون ښيي، نظر څه لري، څه کيږي

وخ کوم مين بيا خپلې هيلې تر زيارت وړي
د منجورو په څېر تته شان لمبه کيږي

ما به يواځې خان ته دومره له خداى وغوښتې
لکه دعاوې په وچ کال د بارانه کيږي

هغه ورځ هم راغله ژوندي هم يو او ښځل هم شو
او دې راتلونکي پنځ شنبې ته دې واده کيږي

د ناممکن علاج علاج بس خان وژنه ده
لپه د لپې اوبو وار چې په ديوه کيږي

خپې خو دا ووايه چې ولې او علت څه دی
څوك چې خبر نه دی نو هغه ملامت څه دی

په خدای لحظې د څنکدن ورته عاجزې دي
اوفف د راتلو انتظار او مهلت څه دی

هسې تا څه کول که ما داسې پريښودلی وای
او اوس زما غونډې سرې ته دې وصيت څه دی

نه نه وروستی دې وې جوړه عکس زه نه اخلم
پرېږدې مې هم ته خو تصوير ته دې حاجت څه دی

چې د قسم با وجود بيا هم څوك دوكه درکړي
تا وا تردې ستر خيانت او جهالت څه دی

ته رانه وړوښته چې ورځ کې مرمه څو څو ځلې
دا رانه مه پوښته چې ژوند څنګه، حالت څه دی

خدايه چې ما سره يوه جينۍ پخلا نه کړې
بيا دې نو لوی مهرباني څه، عدالت څه دی

اوس مې په ډله جينکيو کې غيبت کوې
چې نوم مې اخلې وايې، ما ته خجالت څه دی

کرم دې نه کوي چې نه راځي مجبور نه دی
ارتیا به نه وي د ژوند لیکن ضرور نه دی

اوس چې غمونو راځئ دلته یې تپوس مه کړئ
اوس کډه شوی دی، زما زړه کې یې کور نه دی

مسیح هم پریږدي او بیا زنګ ته خواب هم نه وایي
غرور به څه ته وایاست دغه چې غرور نه دی

ولې قهریږې بیګانی لوظ دې بیا هېر دی
ولې درپاتې مې د درو مچکو پور نه دی؟

په سر مې تېر کړه سلامت د بیلتانه قیامت
له تلو دې پس وګوره راشه رنګ مې تور نه دی؟

دا به هم وایي چې ژوندي یو زنده ګي کوو
څوک چې لوېدلی او ولاړ نه دی نسکور نه دی

زه د څنځیر ماته کړې یمه له کاره وتي
هیڅوک مې خپل نه دی او هیڅوک زما وروړ نه دی

بنګړي دې نه پوهیږم ولې مات شول څنګه وشول
او ما خو کړی لا پنځمه حصه زور نه دی

د مينې نوم څه د کم اصل او د ډم ټوکه شوه
نه کيږي ستا غونډې چې بلې ته خوږ بيا شمه

پرما لعنت پر ما زما د ضمير بلکل حق دی
ځان ته له ډيرې غوسې تك شين له خندا شمه

ژوند دی پيښيږي مثلاً په ګڼه ګوڼه کې
څه کوې ښار کې جوخت په مخه در خطا شمه

او يار زه بايد مابنام کې دغومره نشه وکړم
لکه خدايي ميلمه چې ځان ته نا اشنا شمه

خدايه د مور مسلمانۍ پرته تقدير کې مې
څه داسې هم شته چې زه دې پرې رضا شمه

ملګري ښه دي د غربت پيغور نيغ نه راکوي
خو په عادي خبره شرط کيږدي په شا شمه

کاش زنده ګۍ همدرد د تهزۍ بوربوګۍ غونډې
يو نابيره داسې ورك له دې دنيا شمه

نرۍ غونډۍ اواز به له دې پورې څنډلي
لا شا راپسې ورو غونډۍ کيده چې لېونيه

په خدای لکه سندره ستا د خولې ته ومنه
دا نوم به دومره خوږ ولګيدو چې لېونيه

د خپل ليونتوب حق دې ادا کړی لېونيه
ټول ښار دې په کيسه وغړيدو چې لېونيه

اوږده ساه به مې زر زر اخيسته پټه درتلم
او زړه به مې د ډاره ښوريده چې لېونيه

چې کله به مې شونډې غوښتې ويلې به يې هن
او وروسته به بيا غلې خنديده چې لېونيه

اخير دا دې غزل شو، درد بدل شو په هنر
ستا دغه غږ مې دومره ياديده چې لېونيه

ريښتيا به هم چې شايد لېونی وې باور نشته
همدرد څنګه په دې نه پوهيدو چې لېونيه

د سر خطر کې راته مور سترګو ته ودرېږي
کافر دې شم که راځي خپله زنده ګي زړه ته

څوک پیغور مه راکوئ، نه زه ورنه نه هیرېږم
وخې نو څوک څه ور خبر دي زنده ګي زړه ته

خلکو ته نه وایم چې څه وحشت په ځان کومه
خلکو ته وایم چې اوس نه راځي بیخي زړه ته

ستا تګ څه ګپ نه وو خو دا چې ما ونه ژړل
دا غم اکثر پیښېده څکه وو عادي زړه ته

د خدای په روی ما د هغې په اړه مه غږوئ
د خدای په روی مه کوئ مه راوړئ اغزي زړه ته

ګرمه به ته وې او بښنې به ما غوښتې درنه
ته خو لې دا خبرې دروله خالي زړه ته

یوه هم نه منې فقط بس یوه تا غواړې
ته ووایه څه ووایم زه دې لېوني زړه ته

دومره همدرد د حال پوښتنې مې څوک نه لرم
چیرته مې بل څوک سبب جوړکړي الهي زړه

لا هم هغې ته لکه خان دومره خانګړی یمه
اګر چې داغ یې په لمن یم غم ککړی یمه

د پرش کلن نه یمه زه سږ درویشت کلن یمه خو
څه د وطن او څه دې خپل غم داسې کړی یمه

لکه خپل عکس چې اوبو کې یې په کانو ولې
بنګړي بنګړي او لیکې لیکې اوبو وړی یمه

ستا د راکچې وي پدې خو زما نولس ستا شل
ما درخوشي ده بس راوغړېږه ستړی یمه

نن مابنام بیا له خپله خانه تاوومه غیږه
لکه هغه مابنام نن دومره طبع خړی یمه

زه تش جیب او زما دا لیونتوب او مستي
اته بوتله د ساقي لا پوروړی یمه

خدایه قربان دې خو په دې علت ته ښه پوهیږې
نور خو انسان یم فرشته نه یم نیمګړی یمه

په ستړي مشي کې یې لاس کې اشاره هم راکړه
دغسې ښه یم خو چې دومره همدرد ستړی یمه

مات شوی دومره یم چې څومره انتها کېده
خو دا بې ننګه زنده ګي را څخه بیا کېده

مینه په توپ وله اخر ولې انسان خو وم
ته باور وکه که مې دا تمه له تا کېده

که ستا خبره به کېده خو نور پر چا کېده
ماشومه نه یې خو پر چا کېده پر ما کېده

قسم په خدای که به ذره هم ګذاره کېده
ژوند هم ناکام شو چې نه ته کېدې نه دا کېده

دا و چې خلك د مشهورو روایاتو تابع
څکه خو مورږ پسې د هر سړي خندا کېده

دې ښار کې بل هر کاروبار بالکل پر تپ ولاړ وو
بس د کفنو تابوتونو ښه سودا کېده

خدایه که هر څنګه دی مور وربانديې مه بوروه
د سر قاتل ته مې بس دا رقم دعا کېده

د نیك ګومان ته رانه هر خلې خطا کیده
له ما به ډېر خله یاري د اژدها کېده

خدایه که مینه یې ګنې که مې دوزخ ته لېږې
چې په نشه کې رانه هم دا ستا ثنا کېده

خدای دې زما غوندې برباد بل مسلمان نه کړي
لکه زما غوندې دې څوك پر خان تاوان نه کړي

هو بدنام یو شکر وجدان ته ملامته نه یو
پیرې به تېرې شي خو موږ به څوك یاران نه کړي

زمونږ پر زړونو همېشه د غم وریځې ګرځي
پر موږ د دا رنګ پخول مره اسمان نه کړي

ښه ده چې خپنو پسې وروسته بیا ارمان نه کړي
ښه ده کم اصل چې بېخي سړی جانان نه کړي

نه مې ملګری دی اونه دې ما ملګری بولي
چې د شرابو ګناه کیږي ما روان نه کړي

زه دې غم پټ ژاړوم نه یم ریا کار مسلمان
لازمه نه ده څه چې سترګې مې باران نه کړي

ګورم یو تصویر ته زیاتي زړه ورغورځوم
لاس ته د سیګرټ سوي ایرهٔ ورغورځوم

خان په داسې چل غیږې ته زهٔ ورغورځوم
قصداً د سړک کندې ته پښهٔ ورغورځوم

ستا د کور لښتي ته خپل بانهٔ ورغورځوم
هر ماښام یوه یوه مڼهٔ ورغورځوم

مخې ته غرور د پښتانه ورغورځوم
ښکلې چې کیني زه جویتهٔ ورغورځوم

دغه یو پیغور ورته په وره ورغورځوم
پښو ته یې د سرو ګلو غونچهٔ ورغورځوم

دا د انسانیت قاتله نه شمه لیدلی
سیند ته دا بدبخته توپانچهٔ ورغورځوم

سترګې مې کافرې ګنهګارې دي ماښامه
واه د بنګو څه لوړې هوارې دي ماښامه

دلته یې یو ځلمی د جینی سره وژلی
ته وا زمونږ هیلې چا سنګسارې دي ماښامه

اوس په زیارتو نه زنګوي جونې زانګو
ستا غونډې بیمارې او بیزارې دي ماښامه

شپه کې په چپه کې د اتو خویندو یو ورور
مړ دی په دهوال د وینو دارې دي ماښامه

ته وایه حال د ریا کارو بزرګانو
دوی هم لکه موږ غونډې بې لارې دي ماښامه

غم یې ستا د ستا لپاره تېر نه کړ دلیل شته
سرې ولې دي سترګې ریا کارې دي ماښامه

هو هغه پیغور ستا هره ورځ یو څوک خو راکوي
هو هغه زخمونه مې دغارې دي ماښامه

خلک داسې وایي په همدرد د ښرې ښې نه دي
ایا جینکی دومره وزګارې دي ماښامه

ليکې ليکې مې شي زړهٔ ميرېي ميرېي شي
په ليدو مې ستا هر څهٔ ميرېي ميرېي شي

د بوتل خوند او مزه هو بس همدا ده
چې کميرېي سرې بنهٔ ميرېي ميرېي شي

اخ هلك له جينۍ فلم کې خوله اخلي
زما دلته ورته خولهٔ ميرېي ميرېي شي

زيږ مې غوني شي خبره چې د تگ وي
پر صورت مې هر وينتهٔ ميرېي ميرېي شي

مابنام زجر مې پر خان نذر منلى
راکوهٔ چې مې ماغزهٔ ميرېي ميرېي شي

قراريږي نه خو نيسم دې بنه گوښې
چې دا ټول اغه اغه ميرېي ميرېي شي

تقدس د ميخانې لازم دى بايد
چې ملگري شپېږ اووه ميرېي ميرېي شي

همدرد بيا له چانه سر ټکوي څکه
چې سجده کې په لمانځه ميرېي ميرېي شي

ویده ویده کاته دې واه زرګرې شاه زرګرې
خبرې دې هنر هنر سندرې شاه زرګرې

او بد کوي چې څوك دې په غمبورو لګوي خولې
لمن کې ګرځوو ورته ډبرې شاه زرګرې

ما نابير مخ اړوه ته موسکه وې خدا ولې
ما خان قابو کړای نه شو ما وې اررړې شاه زرګرې

ته ناز پرېږده وخت کم دی شابه هله غېږه را
نا مه کوه دا څه کوې اف لړې شاه زرګرې

میونده ملالۍ ته دې ورغږ کړه چې تپه کړي
چې پاڅېږه راپاڅه هله نرې شاه زرګرې

شاعرې شازرګرې مثلاً زما مېرمن شوې
لنډۍ به راته وایې خوندورې شاه زرګرې

پرون دې پر مزغې د غاښو چاپ راباندې وو
هر چا ته ما هم وې چې دا لوېږې شاه زرګرې

همدرد په تا او ته په لېوني همدرد ښایسته یې
دغه کیسه خو ده کنه که څرې شاه زرګرې

راکړې درد دې لکه زه چې سرتمبه نشې
بیا به دې غوارې خوله له مانه په ویده نشې

غوسه دې جیب کې کیږده غیږه را یارې څه مانا
چې د مچکو ګستاخې هم پکې ونشې

خدایه چې نه خپلیږې نه یې درنه غواړم خو
داسې یې هېر کړه رانه بیا چې را په زړه نشې

تر هغې پورې چې په خپله برخه ښه ډېر ژاړم
تور سپین مې ګډوډ چې په سترګو کې اوبه نشې

د ښېنو نجونو د قدم انداز جالب وو دومره
سړې په نه لیدو برقع کې هم په ښه نشې

نقاده بس هغه کیسې ما په موزون ډول
غزل بللې چې عادې ډول په خوله نشې

دلته سرتیرې ته له مرګه بعد امتیاز دا وې
له بېوسې په نغرې کې یې لمبه نشې

عشقه ذره حق دې تر هغې ادا مه بوله
ستا د جنون پر تقدس چې خوړین ماغزه نشې

مرګ پر پالنګ د جینکو غونډې د ژنو هم
کاااش افتحار شي چې مزید په وینو سره نشي

لکه احساس د یو هېر شوي شي مې زړه بندوي
چې کوم ماښام د مخ غوټکې مې لامده نشي

همدرده څوک غوارې پر خان چې مسخره وکړي
همدرده څوک به فریاد وکړي چې په څه نشي

يو وخت راسره ورانه وه بيخي بې اندازې
بيا هم راباندې ګرانه وه بيخي بې اندازې

همدغه زندګي وه داسې نه وه لکه اوس
او ښه سور کې روانه وه بيخي بې اندازې

ما هم هغه وخت نه کاوۀ ارمان يې د مچکو
هغه هم مهربانه وه بيخي بې اندازې

زما پلار بې ايمانه وو بيخي بې اندازې
ستا مور هم بې ايمانه وه بيخي بې اندازې

وخ خلاصې کمځی دا رقم مې نه وه بيا ليدلې
لامده خشته بارانه وه بيخي بې اندازې

او هغه تيولګيواله مې او هغه مکرجنه
او يار سخته ناخوانه وه بيخي بې اندازې

همدرده لکه ته هغسې هغه جينۍ هم
په مينه پښيمانه وه بيخي بې اندازې

مخلوقه ومنئ قسم په خدای ما اور اخیستی
د بیلتون درد مې په رګونو کې بیا زور اخیستی

یوه مې نه سمیږي خدایه په غضب ککړ یم
ته وا چې ما ازار نه وي د بورې مور اخیستی

انسانیت ښه دی مقابل خوا یې چې هم ولړي
ما هدیره کې په روپۍ ترې ځای د کور اخیستی

قسم په خدای غریبۍ دا رقم دې حق نه دی
مور ته مې د ېر د ېر روژه ماتی دی په پور اخیستی

د افلاطون د غلامۍ نظر لا هم تطبیق دی
دلته هر چا کار له مجبور او له مزدور اخیستی

خوب مې لیده ته مې په وینو باندې غسل کوې
او ما په لپو کې وې تور نری منګور اخیستی

خمه ماښام دی د اذان وخت دی
ډار د الزام دی د اذان وخت دی

هله پیالې د شونډو راکړه کنه
صبر تمام دی د اذان وخت دی

ته او ماښام مې دواړه غبرګ موندلي
وخت د انعام دی د اذان وخت دی

د مور مې بیا وي اندیښنه راپسې
جانه ناکام دی د اذان وخت دی

دېخوا ملا خدایه اذان پیل کړو
لاس کې مې جام دی د اذان وخت دی

نه کنه سات راته د غیرې مه کړه
دا کار حرام دی د اذان وخت دی

ښکلیه په څو روپۍ یې اخلې وایه
همدرد لیلام دی د اذان وخت دی

لکه تږی لاروی کاندي نارې اوبه اوبه
د چا یاد کې مې ملګرو شي لیمې اوبه اوبه

دي خبرې که شکرې ستا له شونډو راغورځیږي
دا چې کړي ورته دې ډېرو یاره خولې اوبه اوبه

ته د زوړونو کړې پوښتنه موږ په دې باندې ویرېږو
چې له غمه به اخر مو شي سینې اوبه اوبه

ښومره سپینې او روانې د غزل په ښهر لالیه
بېل انداز دې ورته زده دې کړې قیصې اوبه اوبه

چې ازاد پکې ضمیر وي پکې تول عمر خوشال یو
که لاسونو کې مو هم شي زولنې اوبه اوبه

بس له ورخه تېر شوي اوس نو بیرته نه راګرځي
داسې ښکاري چې ګل مخیه ستا وعدې اوبه اوبه

ستا په یاد کې راڅاڅیږي د باران نه دي شیرینه
د همدرد تنې له سترګو نه رڼې اوبه اوبه

دا پرهر شوندې مې موسکې، پرېږده چې ښنګه کېږي
لږ مې خپل درد ته زندګې، پرېږده چې ښنګه کېږي

نن ربیار مه ورلیږه نن ورته زارۍ مه کوه
نن مروره لېونۍ، پرېږده چې ښنګه کېږي

هسې نه رورډې شمه وروسته به بیا خوب نه راځي
نن مې بې برخې په خولګۍ، پرېږده چې ښنګه کېږي

راځه خبر کړو خلك زه به خپل بنګړي مات کړمه
ته په ګودر د سر خولۍ، پرېږده چې ښنګه کېږي

روحه ته څه خو زه به بیا هم ژوندۍ پاتې یمه
درومه خو خلاصه مې مرۍ، پرېږده چې ښنګه کېږي

همدرده نن یې ته د ورۀ په مخه مه تیریږه
نن انتظار یې په بلۍ، پرېږده چې ښنګه کېږي

اوښکې اوښکې شي راورې پناه کيږي
ستا کیسې او یو څو تورې پناه کیږي

ما زدیگر څه د مغرورې پیغلې خوب کړي
مخکې خې په شا راګورې پناه کیږي

نور مې پرېږده څوك به راشي لیونیه
رانه اوس د تن په سیورې پناه کیږي

نوم یې نه راخي خو هسې راته ګران دی
دلته ښورې او راښورې پناه کیږي

بیا یې ولید لیونی همدرد چې راغی
خدایزده بیا به په کوم لورې پناه کیږي

زه پکې ورك هم يمه زه پکې اوسېږمه هم
زه پکې نه ښکارمه زه پکې ښکارېږمه هم

د ليونتوب اثرات ښايي چې همدغه به وي
په خان مې خاندمه په خان باندې ژړېږمه هم

زه مې د خپل بدن لمبو ته تودوم لاسونه
زه مې د خان ننداره هم کوم سوازېږمه هم

زما تصوير د ائينې غوندې په جيب کې ساتي
چا چې هېر کړی يم هغې ته زه يادېږمه هم

تندی وهم ورسره دا وايم چې بد شوي دي
په چا چې وير کوم په غم يې خوشالېږمه زه

نامه يې هم نه راځي ما هم داسې نه پېژني
څه عجيبه يمه په داسې چا نازېږمه زه

همدرده داسې به دې نه وي اوريدلي چېرته
قاتل هم زه يمه او زه يمه قلتېږمه هم

وجوده هر اندام مې لکه غر په ما را ړنګ دی
ماښامه یو نیم ډك سیګرټ د دې کیسې قلنګ دی

ستا غږ مې نن دریمه ورځ ده نه دی اوریدلی
ته ومنه چې رنګ مې پیکه شوی زړه مې زنګ دی

څه ښه ناست یم په خدای ان د پاچا له تخته ښه
مودو بعد مې وهلی نن هغه دیوال ته څنګ دی

ژوند تاته د هغه لوند لیږلي لیك په څیر دی
هسې مې بس مخ د سپینې پاڼې پرې بدرنګ دی

په سرو سرو ګلابونو غره نه شي دا سُرخي
دا د دې وطن د سرې شهیدې اروا رنګ دی

خپل ښه اوس چې ښه پریمان را وتپي په سر
بد مو نیکه کړي ورتړلې یې چې لنګ دی

نن لکه د قبرلومړی شپه د منافق
زه به څومره تنګ ومه؟ چې ژوند له ګور نه تنګ دی

سره تبه دې ماته راشه و رنځوره یاره
ساه د کایناتو د ښکلاوو ده بیماره

ما سره زما نه زما ساه ډېره کړېږي
دا خو نو درواخله دا خو نده ګنهګاره

خوند کړي چې ملګري درسره وي جیب ته لاس کړې
نور خو ګڼي ورك شه یا ډالر درهم دیناره

موږ اوس ته وهلي یې که تا موږ اوس وهلي یو
ته به هم حیران دایران وې څه وایې ازاره

ما سره حساب مه کوه خدایه چې در ژاړم
حرف حرف مې د ژوند دی بدل شوی پر کوکاره

باید تر دې کچې انسانیت وي تطبیق شوی
ژوند د خدای لپاره وای خو نه د خدای له ډاره

یه ملا الله دی، بلا نده ډرول نه کړي
تمه دې د رحم له خدای پرې شوي کفاره

وی نو دا خو وجه وه ته وې را روانه
ما ویل د لمر سترګه ده نیمګړې په هینداره

یو سهار پخیر مسیج بیا بل سهار پخیر
دا جینکی غزل راباندې لیکي ده فنکاره

رګ رګ مې قسم دی اوس راستون د جهنم دی
نوره خو مې مه وخوروې پروردیګاره

ګېږ یې ګنې خو زړه به وینې وینې قی کړم
درد به دومره وکوړنجوم زخم به مې سپی کړم

نوم به دې نیم نیم په زنکدن کې راځي خولې ته
ګورې به پر ځان به تر ځان ډېر خفه مرګی کړم

څه وخت وو بې غمه غوړې څنې ګرځیدمه
خدای دې خوانیمرګه کړه پر ژبه دې کوری کړم

هغه غوارم غوارم یې ضرور یې غوارم خدایه
رایې کړه چې بیرته بیا ملا شم ځان سړی کړم

جار دې شم ادکې د کعبې د تلو وس نشته
تا په تندې ښکل په هومره مینه لکه خدای کړم

شکر چې تا بیا په ګوته ونیومه ربه
هو ګنې د خلکو کیسو ډېر درنه پردی کړم

غمه زه پښتون یم د غرور خیال د ساتم
جار دا اندامونه به پر بنګو در لوګی کړم

ما باندې د ستا بیلتون دښمن کړل قدرمن
دغه انسان شوی یم که غم په زړه نری کړم

مينه وه کار د روزانې د مزدورۍ نه وو
دم خوی دې وکړه، مړه رنګ دې د يارۍ نه وو

موږ هلته وګوره چې کله د سړيو تول وي
بيا به معلومه شي خو تول که د روپۍ نه وو

ما داسې څنګه ته په پټو سترګو خان ګڼلې
را پسې شوی که ازار د زندګۍ نه وو

ولې مې بيا ځان غولولو ته دليل غواړم
ولې ليدلې مې انجام د بربادۍ نه وو

دا ستا د تلو خبره دومره راته ياده ده چې
واريدل کاڼي خوموسم هم د ږلۍ نه وو

روح مو تربيت وو پکې ساه تول زنکدن وه پکې
ژوند په نوم ژوند وو ته وا پړی د زندۍ نه وو

همدرد پر تا د يو همدرد جانان باور وکړ
خلك کم نه وو بل سبب د مجبورۍ نه وو

شپه لکه سيند مې د څپې غوندې پر سر واخلي
خپله به راشي که هغه مې له خبر واخلي

له هغو جار چې معشوقو ته يې بنګړي اخيستي
خو بايد مور ته هم تحفه چې د اختر واخلي

دا مين نه دی له محفله يې رټلی شړې
چې يارانه کې څوک د بل سړي نظر واخلي

په هر تصوير کې يې معمول ستا لباس کړی
ولې د ستا د ادا ګانو رنګ منظر واخلي

بنګې نور څه کړی شي د غم د مشغولا شی دی
او غمجن غچ د تک زېړ مازديګر واخلي

زه هر ماښام کور ته په داسې مايوسۍ کې څمه
لکه پنډوکی د سفر چې مسافر واخلي

ته په جلکيو کې، په زنو کې همدرد داسې دی
چې چېرته کيني، نو تمام بنډار په سر واخلي

زه بې مکانه لوګی بیا په مخ سیلۍ کړمه
د تربت شوي شور اروا پښتو لنډۍ کړمه

هغه یو ډکی د ګلاب تا چې ګلدان کې ایښی
اوس یې غوټۍ کړې خو چا ته یې ډالۍ کړمه

د خپلې برخې خوب په شپه تاوانوم مسلسل
پریږدئ چې شپه د ځان په شانې لیونۍ کړمه

چې ائینې ته مې خبرې د خوانۍ وکوم
په تاثر د ځان حیرانې مایوسۍ کړمه

ته مې تکیه نه کړې خو ما هم ځان را تم نه شو کړای
وخت د لویدلي شړیدلي ګړنګ ژۍ کړمه

ملګري وعظ فرمایي تا هیروي را باندې
څنګه د شعر د ښاپیریو روح زندۍ کړمه

ربې مې هره ورځ په نوي رنګ او نوي انداز
د ګلابونو د ماتم اوبه وي انداز

په اننګو کې دې سُرخي له مستۍ چوي زياتې
ته وا نکريزو بدل کړی د ورغوي انداز

سکور که تور نه غواړې نو بيرته يې سکروته کړې بيا
ګني ضرور بيل وي د روغو نه د سوي انداز

د کايناتو د ښکلا رونق يې ځکه تت دی
لعنت پاشلی په هوس بيا د کوم ژوي انداز

په اسويلو دې زما ولې جبين ګونځې کوي
که هسې ښکلو سره ښايي د پيروي انداز

په ليوني همدرد کې نشته د ستاينې چيشی
زما يې خوښ د ليونتوب او خلاصې ګروي انداز

نا خوانه ښکلو ازلي برخې راخوارې کړې
ګنې څه وو څه یې کړو عشق و داسې چارې کړې

زما په سترګو کې سرخي د بنګو نه ګډیده
زما په سترګو کې زندۍ چیغو بغارې کړې

اګر چې سپین مخ وو خو لمر هم مګر نه وو پاتې
دوه مخې وو بیلې سهار ماښام یې غارې کړې

لکه د پیغلې پښتنې په لمن داغ د تهمت
خپلې تنکۍ هیلې مې دا رقم سنګسارې کړې

په هوش کې دا خوند کړي چې هر نزاکت ښه وساتې
نشه کې دا خوند کړي چې خان پکې بې لارې کړې

نه کنه ښکلیه ستا په خوله لکه توهین داسې دی
خان یاد کړه نه ولې صفت نو د هندارې کړې

نه ښه وې ما پسې د دوې اوښکې هم نه کړې توی
ما خپلې سترګې په ژړا فضول بیمارې کړې

خوند کړي غمبورې نه دي خوله چې داسې خرپ یې شي
چې یې مچکې په غاښو ورته نوکارې کړې

چا د لفظونو حق ادا کړ شاعري يې وکړه
چا د لفظونو د عظمت جامې داغداري کړې

ماښامه نن خو به بیا داسې حد کې واوسم
چې په ګناه مې ان پيالې هم ګنهګارې کړې

خدايه چې خوله همدرد ترې غوارې دوی انکار نکوي
یو لس اته جینۍ خو داسې هم دینداري کړې

تنکۍ جلکۍ کونډوي نوم دې د مرګي ورک شي
ګوتمۍ بې ډوله شي چې کله ترې غمي ورک شي

غم څهره څومره عجیبه غوندې حالت ته بوزي
رنګ ته یې نوم لکه مثال د زندګي ورک شي

زه هره شپه با وجود ستا د ورکیدلو بیا هم
وایمه څه کوم څنګ چې د لالي ورک شي

بې خوبۍ دا رقم کړې اغه زما ښکلي سترګې
ستا په مړستون کې له خوړلو یې چینجي ورک شي

وعده مې کړې وه منم یې خو نن نه در وځم
شرم دې لړ مې دې داغونه پر مغزي ورک شي

ورکې کړه بنګې د فطرت نشه باید دومره وي
لکه په ښکلو پسې ځان چې له سړي ورک شي

سرې د اور سکروټې مې په هر زخم کې خورینې کړې
ته څوک یې چې ذکر مې پر وراندې بیا د مینې کړې

دلته انسانیت مینه پر ځان لوبې وهل دي
څه بې ضرورته کیسې موږ دومره اړینې کړې

تور مې په تور څنګه درته ومینځه بیا نه منې
دومره مې بدنامه کړې لمنې مې دې سپینې کړې

مور خور او لیلو مې په دې خاوره پاییدلي دي
خدایه ته د خوست جلکۍ د حورو نه حسینې کړې

تول وجود پرهر یم ګرځیدلی لاس رانه وړې
زخم اسویلې به مې مکمل وینې وینې کړې

خدایه همدرد وژغوره ګني پرې ور روان دي
هسې نه قاتل یې چې د خپل وجود د مړینې کړې

نه به انسانیت توهین وای نه به هم ساه سترې وای
خدایه خو دا ساه به دې په کانو کې پو کړې وای

څومره چې خراب یم کاشکې دومره وای دوه چنده
ته دې هم د خپل خوږلات دوه چنده خوږه زړې وای

تاته د دعاوو نه روحونه ډېر در درومي
خدایه خپلې هیلې مې نو څه رقم در وړې وای

زه د اکویکو کې وای درې ګوترك وهلی
ته مې پټ پټونې کې دوې درې خولې پورورې وای

مړه شوې خو زما بدنامې مینې کاشکې بیا
خور مې وای زما سکه ادکې مور راوړې وای

څه به دې کول که تا لیدلی او ما کړلی
هر ماښام دا زه وای دا د بنګو تورې لړې وای

ژونده که زما غوندې وای ما غوندې به وای؟
ما غوندې لحظې به دا ستا هم په غم ککړې وای

وړې مو پناه له انسانانو نه وای غره ته
زه او ته ځنګل نښتر څېرې وای او برړې وای

هر يو ځای دې ولې په ارمان زما رنګ کړی دی
خدايه دا ازاد جهان دې څه پر ما تنګ کړی دی

ښه يم چې د سر د پاسه سر چا حساب نه کړم
ښه يم چې مې ځان د بيابان غوندې ړنګ کړی دی

هو چې د معنا په لحاظ فرق شته په انسان کې
ځينو په لاس ځينو په سترګو يې جنګ کړی دی

تولې بدرنګۍ مې د قسمت په فطرت ښکلې دي
ژوند مې مست د پيغلو د بنګړيو تر شرنګ کړی دی

خدای ته ګوره مه کوه پښتو د مازديګر په روی
زړه مې نور د بنګو د لوګيو نه زنګ کړی دی

داغ پر انسانيت دی بې تهذيبه انسانان دي
دا ننګ يې بايللی دوی که هر رقم ننګ کړی دی

ژوند دې هر ساکښ ته دومره نه شي بې ارزښته
څه کوې ملګري چې مرګي رانه څنګ کړی دی

بس پر يوه ډډه دی ولاړ چې کله پريوت
اوس همدرد غمونو اوبو وړی کړنګ کړی دی

زما په درد مسخرې مه کوئ خندا مه کوئ
خیر انسان خو یم که هر څنګه یم دا مه کوی

ځانونه ویلې کړئ خو پام ځانونه ونه ښییئ
که بې قدري د خپل ځان نه کوئ رښا مکوی

هر څوك د خپل زړګي بادشاه دی نو بیا ولې نه دی
پرېږدئ په هیڅ یوه انسان هم غږ زما مه کوئ

پرېږدئ چې زر مې الله واخلي کیسه زر خلاصه شي
که څوك احسان راسره کړي ماته دعا مه کوئ

څولۍ ته ګورئ که یاري نه شی کړائ مه یې کوئ
یو ځل چې څوك پر ځان منین کړئ بیا دوکه مه کوئ

زه لیونی یم چې په دې ښار کې رښتیا کومه
تاسې خو نشی لیوني تاسې رښتیا مه کوئ

یارانو هر چیرې چې یاست الله مو ښه ولره
خو پام چې مړ شمه پوښتنه بیا زما مه کوئ

پوښتنه مه کوئ چې ښه ډېر دی که بد ډېر دی
ژوند تنګ دی، ستړی دی، ان دومره چې تر حد ډېر دی

د زمانې ضرورتونه محبت ویوله
ښه پرې پوهېږو چې له مینې یې مقصد ډېر دی

اوس نیم سړی دی، ترې روانه کیسه هېره نه شي
لیونی شوی ستا همدرد له سل فیصد ډېر دی

لکه څهره په ائینه کې باید حتماً وي
ستا د لیدو ضرورت ومنه اشد ډېر دی

خوله دې ګوړې ګوړې ده خبرې دې شکرې دي
واړه خصلتونه دې زما د شاه زرګرې دي

موږ نه یو چې خاندو د تقدیر تندي پر کرښو
کونډې د پلارو په کورو جونې مرورې دي

دلته زه د مینې اذانونه کړم پاګل یم
خلك يې د اوسپنې دي زړونه يې ډبرې دي

پرېږدئ د هوس تړو بازي د اندامونو
مه ماتوئ زړونه خو د خدای پاك ملغلرې دي

لا هم دلته بوی خي د لفظونو د بارودو
لا يې هم خبرې د لښکرې دي د زغرې دي

هسك يې د شملې غرور ساتلی دی د ورونو
پیغلې مو نران نه دي خو البته چې نرې دي

رایې کړه د خدای په نوم که څه درسره پاتې وي
شونډې دې ممیز دي تورې سترګې دې ګورګورې دي

څکه داسې شوي یو د هر چا د خندا یو
سم دم ملایان یو خو خوړلي مو تکرې دي

زه څه شوم، دوی څه شول. ولې نه ښکاري ملګري؟
موږ چېرته یو وا همدرده! هغه خلك چرې دي؟

دومره مايوس شمه پر ځان باندې مې زړه وسوزي
خو مه کړئ ښه دی لږ دغه رقم چې ښه وسوزي

شرم دی هسې د ګناه بې قدري نده په کار
ولې زموږ په ګناه خدای لمن د غره وسوزي

زه خو دا وايم چې انسان دې بس انسان واوسي
نه دې مندر، نه دې جومات، نه ميکده وسوزي

د ژنو مرګ نو بيا په دومره بدرنګۍ نه ارزي
لکه له پيغلې چې نغان په تناره وسوزي

پر ما بل شوی اور دې خدايه په انسان ووينې
دا داسې اور دی چې شايد خپله لمبه وسوزي

د نازولې عربۍ بچای دی ګرم نه دی
درد يې حس ندی نو پر ما به يې زړه څه وسوزي

نور نه پوهيږم چې مئينه يم که څه کيسه ده
اکثر مرې چې پخوم رانه ويښته وسوزي

دا په ډک زړه په نيمه شپه کريغې که وکړمه
په اسويليو به مې تول په خوب ويده وسوزي

زه چې په کوم حال یمه، یو خدای ته مالوم یمه
والاکه دا پته لګیږي چې زه کوم یمه

ستا د دیدن غوندې د ډېر څه ارمانجن پاتې یم
ستا د دیدن غوندې د هر شي نه محروم یمه

د جلکی پلاره که منې نه منې، دا به منې
دغه به ته وې، دا به زه، زه به دې زوم یمه

ته عجیبه کیسه کړې، دا رقم بیخي نه ده
اوس دې پرېښودی شمه؟ په نوم دې چې بدنوم یمه

دومره د سختې کیسې زغم زیاتی را پاتې نه دی
ګوره در وبه ژاړم رینګه کړم ماشوم یمه

ملا بس تا چې کافر کړی یمه څه ووایم
ګني د خدای په انایی کې تری تم یمه

د مازدیګر سګرټه وینې د غرمې سګرټې
چې یې راوستی بیا په دا رقم دم دم یمه

همدرد یاغي انسان یم مینه مینه یمه
ستا په خندا کې بس په هر بل انسان شوم یمه

مورې څه په کمه خوشالی ټول عمر غم واخیست
دې جوارې کې مو تاوان لږ په سر کم واخیست

نادیده خلك مې چکچکې کړي د غم داستان ته
ستا د پیغور غځ مې په چیغو له عالم واخیست

زنه دې نیسم بنگې مه څکه، خراب کړې یې یې
کاشکې کیدای شوی، نن یې بیا رانه قسم واخیست

راشئ مئین شئ او دنیا په ښېل انداز وګورئ
جنت لا څه ما دومره خوند له جهنم واخیست

د کربلا کیسه نو کومه ورځ تکرار نه ده
څه هرې ورځ ته که چا نوم د محرم واخیست

ته وا زما غوندې دی هم مایوسه شوی دی
پسرلي هم رنګ د خزان خزان موسم واخیست

زموږ له اوښکو یې د ناوې اوښکې جوړې وې
دوی به سندرو ته الهام زمونږ له ماتم واخیست

دا نیمه شپه وګوره مورې ګوره دا حال ګوره
خو دا مې ومنه ته هم د ځان زوال ګوره

زما زارۍ که مني ومنه، که نه یې مني
بیا مې ښیرې ګوره ازار ګوره وبال ګوره

جلکۍ قربان دې شم د زړه نه ته مئینه یې
خو د خدای روی مورې ته ما کار او ما جنجال ګوره

مورې څه د نه سرو بدې په سر اخیستي ده
د دوی منطق ګوره خواب او استدلال ګوره

خالده دغه پښتانه ریښتیا که ستا نسب وي
تیارو ځپلي دي سبا ته یې بلال ګوره

ملنګه ځار دې شم یوازې ځان ته هم مه ګوره
فصل هم ګوره ږلۍ هم ګوره او کال ګوره

دلته که ګورې په ایرو کې غمي مورې ګوره
که غمي نه غوارې دوی غوارې بیا یې مال ګوره

زه څه یمه اور یمه اوبهٔ یمه درڅار
تول مینه مینه یمه زړهٔ یمه درڅار

د مور د قدم خاورې یمه څکه معزز
په سترګو مې کړه پورې تور رانجه یمه درڅار

بې تا څنګه امکان لري چې ښه دې یمه زه
خو تاته تش په خوله وایم چې ښه یمه درڅار

د باد د زوره نه یم د هوا د زوره نه
په لاس کې به دې ومرمه ډیوه یمه درڅار

سفر مې د ځوانۍ تول ښایستونه ولوستل
ګني هغه سړی یمه په څه یمه درڅار

په خوب کې مې خوب لید یخې اوبه مې په مخ توی
کړي غړ په ما لمانځه ته زه ویده یمه درڅار

همدرده مرګ مې لس کاله له تا شه مقدم
خو ته به داسې نه وایې چې نه یمه درڅار

چې دې راویښ کړو هله شاباس اوس ویده یې هم کړه
یو څوك مې ولیدل چې هغه را په زړه یې هم کړه

سترګې یې د کې وې له اوښکو راپیدا یې شوندې
سکنی ماښام وو په تلو تلو کې وه کیسه هم یې کړه

هغه نه داسې ویل چې نه درځم او یا چې درځم
هغه به نه راتله خو هر ځلې وعده یې هم کړه

بیګا یې بیا د ماما لور ته وېل خبره یې؟
هغه زموږ کره راغلی و او شپه یې هم کړه

هغې ویل ستا نوم یې د بر اخیست همدرده ګله
صفت یې هم درنه کاوه خو لږ ګیله یې هم کړه

د زړه چاودي ماښام زړه یمه روان یمه
او د پښتون په څیر ویده یمه روان یمه

نه مې څه کار شته او نه یار نه د کتاب ملګری
هدف هم نه لرم، پوه نه یمه روان یمه

خلکو ته دوه ښکارو خو زه ورته غږ داسې کوم
زه یمه زه یمه دا زه یمه روان یمه

تپوس کومه د چا بام ته ورشړمه کاڼي
تپه تیاره ده نادیده یمه روان یمه

درد پتومه او د هر چا سره خاندمه هم
بس ګوذاره ده، دومره ښه یمه روان یمه

د سپینې نوي ملا دې داسې خرب شو ما ویل اخ
نو تا و خدای اتڼ کې څوک ماتیږي دومره دومره

دا ونه د انګور ده او که پیغله ده نخرې کا
پياله د خمارونو ده زنګیږي دومره دومره

مورکې ستا دعاګانو ته مې بیا ضرورت شوی
څو تورې بلاګانې دي ښکاریږي دومره دومره

پوهیږي چې مې درد په دروغجنه موسکا پټ دی
په غم مې خیني خلك خوشالیږي دومره دومره

هغه سرې پرون دلته په ډم باندې مشهور و
هغه سرې چې نن پر ستېج غړیږي دومره دومره

د خپلې بېوسۍ کیسه مې سترګو ته ودریږي
په هر سوالګر مې څکه زړه خوږیږي دومره دومره

مثال یې بس همدومره اندازه یې نامعلومه
همدرده نن مې هغه څوك یادیږي دومره دومره

غمه زه او ته پاخهٔ اندېوالان یو
وفادار یو بل ته ښهٔ اندېوالان یو

ته پوهېږې دا احسان د چا نشتون دی
گڼي نور وایه په څهٔ اندېوالان یو

زه بې تا هېڅ ته بې ما بې ډوله ښکارې
کله سترگې او لیمه اندېوالان یو
زموږ ختمه یې اغږلې په یو بل کې
مینه مینه یو زړهٔ زړهٔ اندېوالان یو

د یو بل له خوشبو ساه اخلو ژوندي یو
گریوانه وې دواړه مړهٔ اندېوالان یو

اذيت دی نن يې خورمه خرابيږم
ساقي مرمه مرمه مرمه خرابيږم

واه له دې اندازه څه عجيب خوند اخلم
له قدم تر بل قدمه خرابيږم

زړه درزيږي اندامونه مې تول ريږدي
ستا تر کلي چې درخمه خرابيږم

د چا ياده لږ د خدای ج ياد ته مې پريږده
نوره نو بس ده ګني غمه خرابيږم

ليونيه ستا تصوير د خمار کيف کې
چې يې ګورمه نو سمه خرابيږم

بې له تا هم پر زنګون د تندي حال وي
خو چې ستا په خوا کې ومه خرابيږم

نن مې بيا د بغاوت اراده کړي
بيا کومه يو څو دمه خرابيږم

ماته په نه راتلو دې نه کوي احسان څکه چې
هسې زخمونه شي راوېښ چیرې ارمان څکه چې

علت معلوم دی، د علت سبب یې مه پوښته بس
غریب یم خې رانه په تنګ واړه یاران څکه چې

اې ښه پوهېږمه خو وعظ چا ته څکه نه کړم
چې لاتر اوسه مې باغي دی رانه خان څکه چې

د یوې معصومې غوټۍ هیلې د بقا په خاطر
ما په لمنه کې جوړ کړې دي ګلدان څکه چې

**همدرده اوس نو هسې هم کیسه افشأ غوندې ده**
**ستا دې شم ستا دې شم په تا دې شم تاوان څکه**

درد دې وي پرهر دې وي فریاد دې وي
ستا تصویر دې هم وي او ستا یاد دې وي

دا زما کنډر زړه ستا په ذکر تل
ښاد دې وي اباد دې وي اباد دې وي

پیغلو ته د مینې د ثواب سترګک
خبر دې که فساد وي دا فساد دې وي

نن دې پلار زما پلار ته ویلي وو
دواړه لیوني دي خو ازاد دې وي

هر وخت چې زیارت ته درومې په جینۍ!
ستا دې شي په زړه چې څوک مراد دې وي

ماښام دی، ښکې دي ياران او زه
قهوه ده جام دی مست تاوان او زه

د راز ملګرې مې دي کلك ملګري
يو بل ته ګران يو بيابان او زه

د چا په غاړه کې مې خوله ورکړې
نن په بېل کيف کې يو ارمان او زه

زه هم د چا نوراني مخ سپېڅلی
يو بل ته ورته يو ريحان او زه

مه مړه ستا کيسه به څه جوړه شي
يو بل کې وران دي سره خان او زه

شين د نښترو د غره ژی او چينه
سپېګرې، مسکا، خيمه، جانان او زه

همدرده ته و خدای چې څوك ښه ښکاري
دواړه دي مخامخ پېژوان او زه

جار دې له وچو شونډو دا اوږدې روژې او ته
حسن دې سترګې بریښوي، دا کرشمې او ته

نن عجیبه مسلماني دا ستا له خولې اورمه
نن څه ګړی په ګړی ست د تلو کړې خې او ته

قربان دی، امر دی د خدای، ګني روژه او ته
په خدای چې کټ مټ داسې ده لکه ایرې او ته

نن راته وغږېږه وغږېږه وغږېږه
بیا خدای خبر دی چې به بیا وي داسې شپې او ته

ائینې تا سره تشبیه که ائینې سره ته
څه بې توپیره سره ورته ائینې او ته

مره په خدای که مې باور کیږي قسم مکوه
راته معلومې دي همدرده ستا وعدې او ته

د تلو نه پس، درپسې داسې یم چې څه یې کوې
جانانه بس، درپسې داسې یم چې څه یې کوې

ډمه ادا دې وکړه راغلې بیرته لاړې راته
ودې کړو تس، درپسې داسې یم چې څه یې کوې

تا ویل چې مرم درپسې ته نه مرې نن زه مرم جانه
یم هغه کس، در پسې داسې یم چې څه یې کوې

ستا د بیلتون خنجر او دغه بې ضمیره زړګی
او دا هوس، در پسې داسې یم چې څه یې کوې

ستا هیرولو کې ناکام راغلمه پاتې راغلم
یمه بې وس، در پسې داسې یم چې څه یې کوې

د چا کيسې اورم سپيڅلې عبادت دی بس
کيف هوبهو د سپين کتاب د تلاوت دی بس

د ماتيدو له ويرې ور مې کړو او ومې ژغوره
زړه مې د بل چا په وجود کې سلامت دی بس

زه ترې مرګ مخکې غواړم دا رانه مرګ مخکې غواړي
زموږ تر منځه ايله دومره محبت دی بس

يوه جينۍ مې د دعا وروسته دعا ده بس
يوه جينۍ مې د تمام ژوند ضرورت دی بس

ته راته موسکا شه غاښونه دې په شونډو تينګ کړه
غزل کې څه دي نور، همدغه رياضت دی بس

ته راته ووايه چې هيڅ مې نه يې هيڅ دې نه يم
قيامت نور تور وي او که سپين، دا قيامت دی بس

نه ملامته خو نه، نه، ته ملامته نه وې
همدرد خو بې دليله پر او ملامت دی بس

نن د غم حد ماتوم نن په غم ښه ټوکه کوم
ته چې رایاده شې او زه به ښه سم وخاندمه

نه، نه انسان دی، نه، نه خدای دې داسې زړه نه کړي را
چې مې د خپل قاتل په درد خفګان غم وخاندمه

اې لیونۍ خو زه به نه ومه، په ځان مې شك دی
یو دم په کریغو کریغو ژاړم یو دم وخاندمه

نن دې تصویر هغه خبرې راته بیا رایاد کړې
ستا مات لوظونه ستا وعدې نو صنم وخاندمه

که چیرته ته غواړې په وخت د زنکدن کې رانه
چې راته موسك شه، شاید موسك شمه هم وخاندمه

دا خلك بیا راپسې وایي همدرد بیا مین دی
نو څه ګناه تش که په لار یو قدم وخاندمه

د رباب ترنگ دی، ژوند موسیقي ده، خو دلته نه
د پیغلې ځنگ دی، غږ د لالي ده، خو دلته نه

د واده شپه ده، گیډۍ د گلو، شرپه د شوندو
تک سور پالنگ دی، او زندگي ده، خو دلته نه

دوی ته ژوند ښکلې لکه د حورې تشبیه ستونی
هلته ویر گونگ دی، مره بدرنگي ده، خو دلته نه

د دوو گیلاسو، د کرنگه ساز نوم، څه دی ژوند دی
خمار دی بنگ دي، هوس خواني ده، خو دلته نه

هغه د بر کور، په بام ولاړې، د وروڼو خویندې
تر منځ یې جنگ دی، فضا زخمي ده، خو دلته نه

دوی چې کافر دي، ځکه ښه نه دي، خو ځکه ښه دي
ژوند یې یو رنگ دی، او تساوي ده، خو دلته نه

## د ساجد بهار په ليکه

د سپينې واورې او څوانۍ هم احترام په کار دی
صايبه نن خو د نشې څه انتظام په کار دی

موږ هغه نه يو چې د ښکلو نه قلنگ اخلي
زموږ يې هسې تش سلام په کار کلام په کار دی

مړه نو هر وخت د ملا خبرې هم مه اورئ
په څينو څينو گناهونو کې دوام په کار دی

نن مې اتڼ کې په سندره کې په جهر ياد کړه
اخير ياري ده پته نه کيږي الزام په کار دی

دا خلك ورځ غواړي خو زه، بلعکس کار کومه
ما ته تياره په کار ده ما ته بيا مابنام په کار دی

ما دې تر دې حده د مینې راز خوندي ساتلی
زړه مې خوږېږي خو پوهېږې نه چې څه علت دی

هغه چې ژاړي هم ده غلي، هم ده غریو نیولې
لکه شپه چپه او غړېږې نه چې څه علت دی

هغه مې مرګ غواړي او زه ورنیم ومه خپل ژوند
پدې پوهېږې او پوهېږې نه چې څه علت دی

د هغه ګرم محبت جذبې سړې شوې که څه
اه مې تر تا پورې رسېږې نه چې څه علت دی

اوس زه د مینې په نوم هیڅ ناول هم نه لولمه
اوس مې فلمونه هیڅ خوښېږې نه چې څه علت دی

هغه همدرد چې به مې ساه ساه کې هم یاد وو مګر
اوس مې پوره کال کې یادېږې نه چې څه علت دی

دا به څه ژوند وي چې دې هېڅ پکې ارمان نه وي
له مابنام وروسته خو چې جام نه وي، ایمان نه وي

تاسې یې ومنئ: ما ډېر داسې لیدلي دي چې
انسان انسان وي، خو بیا هیڅ انسان نه وي

دا به څه عدل وي چې حورې وي، غلمان هم وي
سره سره د دې بیا هم هیڅ امتحان نه وي

د غریبۍ اخري حد تر دې نور څه کیدای شي
چې پښو ته ځمکه او پر سر باندې اسمان نه وي

الهي لس کاله دې مرګ زما ترې مخکې شي خو
دا لحظه مه راوله، زه چې وم، "کاروان" نه وي

**مره شراب هم په یوازې ځان مزه نه کوي**
**چې ښکلي نه وي یاران نه وي بیابان نه وي**

تبه مې نه پرې کېږي راشه ګنې مرم درپسې
ګلرنګې دومره خراب کړې یمه غم درپسې

څه! ګلابونه خو د هر چا په بیلتون زېږېږي
باور دې وشه تک ژېړ شوي دي غنم درپسې

چې درد مې ونیسي د دم مالګې په څېر یې زېښنم
راټولې کړي مې دي خاورې د قدم درپسې

تپه تیاره وه غږ مې نشو کړای ته هم خفه تلې
همدا مې وس وو چې تر ورۀ دې شاته تلم درپسې

په تصویرونو کې خوشبو ستا د خولو حس کوم
ژړا راځي لیکن تصویر دې نه مینځم درپسې

که د خدای رحم مستثنا شي ترینه وبه وینې
چې دې نړۍ ته به رادرومي جهنم درپسې

واه د غومبرو د غوټکو تر سرُخي دې قربان
چې یې رانیسمه نو خپلې ګوتې خورم درپسې

ژوند د وي، ساز دې وي، شراب دې وي او ته دې وې
دغه ثواب ثواب عذاب دې وي او ته دې وې

د ژوند ارزښت دې وي، ستا قدر سلامت دې وي
زندګي ټوله، ستا بابا دې وي او ته دې وې

هو زه يې غواړم، خو لوږي مګر ترې تا غواړم
د ژوند همه واړه اسباب دې وي او ته دې وې

د درياب ژۀ دې وي، ماښام دې وي او زه دې وم
ترنګ دې وي، شرنګ دې وي، رباب دې وي او ته دې وې

ستا ليونی دې وي، همدرد دې وي، نشه دې وي
زانګي را زانګي دې، خراب دې وي او ته دې وې

سمه د شراب او پاچاجي له غړ جوړه يې
ګوره ګوره ګوره يې جينۍ د قامې ګوره يې

دا خل په ناغۀ کې مې حق کيږي چې کړې شونډې را
دا خل په څلور کتابه سمه راته پره يې

ته راسره سمه پدې سمه خمکه ودريږه
زه له تانه لوړ يمه که ته له مانه لوړه يې

ما دې که په عشق کې پنډه ړيره وبايلله خو
ته مې هم اوس شکر بنه د عشق په رنځ ککړه يې

نه نه همدرد څنګه پريږدې واى، جهنمي به شې
تش په دې خبره هم د سترې سزا وړه يې

رب دې قبوله کړه بنیره، په ما تاوان شي ته شي
ځانه بې ځانه، زما ځانه، زما ځان شي ته شي

پردی تصویر وي ناګهانه داسې لویه وکړي
ته شي په نه خبره سم راسره وران شي ته شي

چې راسره یې، لکه ته چې نه وې بل انسان وي
خو چې رخصت واخلې او درومې چې روان شي ته شي

زه مې چې مور ته دغه ډېرې دعاګانې کوم
نو د سر لفظ مې د دعا د هر ارمان شي ته شي

بل څوک بې تا دې الله نه کوي چې زیات راګران شي
ګله د هغې پر ځای نوره هم راته ګران شي ته شي

براس د زړه باران د سترګو له اسمان دی
امتحان پسې دې خدایه امتحان دی

سپینې اوښکې مې ارزښت لري ملګرو
په هر څاڅکي کې یې بیلابیل ارمان دی

لیونی نه یم غمونو کړمه داسې
ګریوان څیرې لوند د اوښکو په باران دی

فکر نه کړم چې مرام ته ورسیږي
منزل څیرې دی، کاروان څیرې روان دی

فرشته دې خدایه نه دې پیدا کړی
خامخا به سهوه کیږي چې انسان دی

یو څوک سوی په لمبو خو کرامت یې
خوشبو کاندي تور لونګ دی که ریحان دی

زړه مضبوط ورته ساته همدرد تنهه!
انقلاب دی، سره سپلی ده، تور خزان دی

د سر په قيمت ارزي د وصال يوه شيبه
دا څکه چې هجران کې وي يو کال يوه شيبه

تعويز به يې بنا کړو چې راتله به مې ديدن ته
په سر به يې تړلی وو رمال يوه شيبه

دا ستا د ديدانو څه ارزانه ارزاني وه
های کاش چې وای هغسې کليوال يوه شيبه

په موږ دې د غمونو سودا خرڅه کړه ته لاړې
تا وکړو جادوګره خپل کمال يوه شيبه

زنځير دې رواجونو خو وي مات غاړه غاړې وو
چې جوړه پاچاهي کړمه د خيال يوه شيبه

د دغه ليوني همدرد دې هيلې وربيلې
بيلتونه خدای دې تا نه کړي خوشال يوه شيبه

دغو ته مه کړه د بیلتون د درد خبرې څکه
دا خلك خاندي او په درد د چا سره نه دردیږي

خدایه عجیب نظام عجیب مخلوق دې اوسي دلته
دوی به ملنډې جوړوي ترې ستا به زړه دردیږي

===

څو تصویرونه تازه واخله او را ویې لیږه
ما د همزولو سره شرط ستا په ښکلا ایښی دی

دا په شرابو ککړ جام او د محراب په خوا کې
پاتې د حورو له عاشقه دی، ملا ایښی دی

===

تقدیر وو دا چې مې لمدې غوښې لمبې ونه کړې
ګني نو تا راباندې کومې تجربې ونه کړې

نوم یې د کلي د بدرنګو لپست کې اوس هم شته
خو قسمت یې دی په مړوند د زلیخې کوي خوب

د یو چا سترګو کې مې زهر زهر خوب ولیده
او په ویده ویده نظر کې یې لمبې کوي خوب

---

چې دې راوکتل او مخ دې رانه هم واړوه
جینۍ، ته ورکه شې نو ولې ګنهګار دې کړمه

ته لاتر اوسه مې په زړه کې یو جلا ځای لرې
پوهېږم نه راځې خو بیا هم انتظار دې کړمه

---

د ماتې شوې حوصلې په پای انسان داسې وي
لکه چې و نه اوري ډک زړه د اسمان داسې وي

قلم دی، ته په سرنوشت د کوم بې وسه ژاړې
ژوند دی، زمونږ پکې د ښې ورځې ارمان داسې وي

کله نا کله درد د چا د یاد بیخي سیوا شي
کله نا کله، کله اور راپورې ځان داسې وي

نه نه مکوه جنابه ګمراه شوی يم
زه دې نه لولم کتابه ګمراه شوی يم

زه ګناه غاړه غاړې شوی يو ثوابه
خو تا نه کوم ثوابه ګمراه شوی يم

زه همداسې خپل وجدان ته ملامت يم
زه همداسې بې خوابه ګمراه شوی يم

د ملا سره پښتو پالمه څکه
بې جوماته بې محرابه ګمراه شوی يم

===

زه مجبور يم ګني تا ته سوال کول
له وچ کاني نه غوښتنه د اوبو ده

څه بې لاتشبيه ښايست خدای در پيرزو دی
اوبه زنه لري؟ زنه دې اوبو ده

ستا د کوڅې ماشومان کټ مټ ستا خویونه کوي
دوی مې پښکنځې زه پسې منډه کړم ګلاب ورکوم

له تانه وروسته ما که بله جینۍ بیا یاره کړه
د لومړني خل ملاقات کې به کتاب ورکوم

----

د میخانې پر ور لیکلې یې دو ومې ښېښې
ربه خو اوس د زندګۍ سره مخ شوی یمه

چا چې په خان پسې په هر ماښام ژړا مجبور وم
کالونه بعد هغې جینۍ سره مخ شوی یمه

د یوه سړي له تانه نه کیږي بیخي نه کیږي
بس دی راځه جانانه نه کیږي بیخي نه کیږي

ته دا منې ښکلي د ژوند د مړي مالګه ده
ته دا منې چې جانه نه کیږي بیخي نه کیږي

دا کیسه کیږي هم جوړیږي هم چې ته ووایې
خو دومره هم اسانه نه کیږي بیخي نه کیږي

----

لالیه د نشې د ماښام رنګ څه دی خو ته یې
هغه هم لکه ته سړی خاموشه کړي په درد کې

ناااا سپین به راته وایې په ایمان به راته وایې
چې کوم څه دې خوښ شوي، په شډل بډل همدرد کې

راشه د ورك وجود د ورکې تماشې موسم دی
زمی باران نیمه شپه بالکل د نشې موسم دی

لالیه بیا دې لړ د غمه ارام شوی یمه
راشه که زهر په زخمونو مې پاشې موسم دی

هرڅوك چې وايي مرګ ښه دی نو زه ولې خاندم
هرڅوك چې وايي ژوند ښه دی نو زه ولې مرمه

عجب دروغ دې ستا خوښې د ځان خوښې ګڼمه
پر پنځ شنبه چې ستا واده دی نو زه ولې مرمه

===

نه کیږي چاره نشته په خدای که له مستۍ نه
ما یو ګوټ کړی وي چې څه ورڅه مړه ځواني ده

شیطان نه د چا زوی دی او نه ورور ته خو پوهیږې
څه څه کور ته دې ورسوه شپه مړه ځواني ده

د مور د مړینې د اول ماښام هماغه رقم
په نه کیسه زړا رادرومي زړه مې داسې ډک دی

زه یې لا مخکې بیرته تلو ته وار خطا وم دومره
ته وا پر غم غم بیا رادرومي زړه مې داسې ډک دی

---

تولې خاطرې دې له تلو بعد لکه دا اوس چې
هوبهو یې نه تمثیل کوې او زه دې وینمه

یاره د کفن غوټې دې وشکوه کنځل وکړه
هن قربان ته وخانده زر کړه چې و دې وینمه

ته مړ یې که زه مړ یم او دا ناکام چا ومنځ
غم وکړه دا نه منم، دا څه چې نه دې وینمه

---

هسې د ځان او ژوندګۍ سره دې لوبه کړل
مینتوب څه اصیل سرې بې سرېتوبه کړل

دې پښتو ډېر لکه زمونږ غوندې بې قدره کړل
دې پښتو ډېر لکه زمونږ غوندې بې وبه کړل

مونږ که د یو بل نه شوو، یو بل هېرواې هم نه شو
خو بې فایدې هسې ځانونه مو بې خویه کړل

===

غوارم له تا سره بیا بېرته یارانه وکړم
خو اوس مسېج درته په کومه بهانه وکړم

ته هغه څوك وې چې دې پټ زړه کې ما ځان ولیده
تا دوکه راکړه زه باور په ائینه وکړم

له موږ نه زیات ګمراه، له موږ نه زیات بدنامه دي
راشئ قسم درته په ټوله زمانه وکړم

چې مسیج هم نه کوي، ویني یې انلاین هم وي
دا ځیني ښکلي ماتوي قصداً غرور د سړي

د نر میړه نښته، خو ځوك وایي چې نه یې شته
ولې میړه نه دی چې وي د سړي پور په سړي؟

---

مات دې کړم داسې چې د حد او اندازې ووتم
لکه ستا داسې مې د خپلې حافظې ووتم

نښتون دې داسې مقدس لیونتوب راکړو چې
غم دې بې غمه کړم له هرې اندېښنې ووتم

---

لکه د هند فلمي سندرې ته ستا نرمه ګډا
نن د خمار په کیف کې دا خبره خولې ته راځي

هغه یاران چې منتظر مې وو د داسې لحظې
مرمه خبر یې کړئ که څوك مې تماشې ته راځي

ښه نه یم، خمار یمه سترګې مې درنې درنې
بیا د سترګو ښکار یمه سترګې مې درنې درنې

نن له ځانه وتی یم، ځان په ځان کې نه لرم
نن بې اعتباره یم سترګې مې درنې درنې

====

زړه زه له دې جینې غیبت کوم که ویې منې
نن دا سپیڅلې شرارت کوم که ویې منې

نه زکات غواړم ترې او نه په سرسایه کې شونډې
مفته د پیغلو امامت کوم که ویې منې

====

لفظونه دومره غني هم نه دي چې کړي کفایت
ځینې ښکلاوې د لفظو لمن کې نه ځایږي

خدایه د ژوند بقا پناه کې هم وي مل د سړي
څو افسوس دا چې دوه نفر کفن کې نه ځاییږي

حيرې يې بس کټ مټ د خوشحال د خولې غزل دي
زما غونډې بزرګ سړي خراب کړو جينکۍ

ما خداى هم د يو چا له پاکې مينې پيژندلى
د زړه په خراسان مې انقلاب کړو جينکۍ

دا ډله جينکۍ راباندې هسې بدګومانه
ديدن مو ما په نيت د ستر ثواب کړو جينکۍ

---

زوند څه دى خو نوم دى د ناکام، غاره مې ايښې ده
تږى د مرګي د اور په جام غاره مې ايښې ده

صبر نو ترکومه او دا زغم اخر ترکومه نو
صبر دى تمام تمام تمام غاره مې ايښې ده

تا چې خپلوم بلها خبرې خو به کېږي نو
وي دې دا پيغور لو دا الزام غاره مې ايښې ده

ته څه توکل په خدای یاره که مړ شومه که پاتې
ته یو ځل راته وخانده چې څه کیږي نن بیا

ما ووژنه د زلفو دلې ړنګه په تندي کړه
د ژوند سترې کیسه نور له ما نه کیږي نن بیا

ښه نه یمه جومات کې مې فکرونه ګډوډ شوي
ښه نه یمه شرابو ته مې زړه کیږي نن بیا

===

یو انځور دی سرمایه د زندګۍ ده
مینتوب هم سرسایه د زندګۍ ده

چې ته ومرې زه تهمت د جهان واخلم
بس همدغه کنایه د زندګۍ ده

روح مې څکه داسې سترې دی په تن کې
پرې رالنده چې سایه د زندګۍ ده

په سخته ورځ کې به په تول واړه معلوم شي ورته
سرې دې هیڅ کله ملګري یاران نه ازمایي

موږ څو څو ځلې امتحان کې کامیاب شوي یو نو
موږ دې په دار په زولنو او زندان نه ازمایي

---

ربړ دیدلي قدمونه ته وا مرې تبې نیولي
بې باکې څوانه شوخي یې د یارۍ لیدلي نه ده

پټوي مخ په پړوني له رڼو ستورو شرمیږي
د اسمان مرغانو هم یې لا مرۍ لیدلي نه ده

---

د خیال پاچا له غلامۍ نه دې ازاد نه شومه
له ما هم هیر نه شوې خو تاته هم دریاد نه شومه

خدایه چې ما د شاعرۍ سره به سمه غوښته
خدایه مراد مې وه نو ولې یې مراد نه شومه

اوس مې په خپل مینتوب شك شو ښايي نه یم مېین
په بېلتانه دې چې ذرې ذرې، بادِ باد نه شومه

دلــــته شتون د ژوندانه هم پښېماني ده
دلته پس له مرګه بنه قـــــدرداني ده

لږ يې پرېږده هوسا ژوند ته وخته مه کړه
يو څو هيلې ورســـــره دي او ځواني ده

دلته مينه لــــکه پيغله ځوانيمرګه
دلته مــــــــينه د اورونو قرباني ده

===

چې يوه خاندي راته، بله راته غيږه راکړي
خـــدايه په ما مئينې بيا سره په ضد واچوه

چـــې د عفوې په بهانه زنې ته لاس وروړمه
دا لـــــيونۍ خو لږ زما سره په ضد واچوه

دلته د مـــرګ نیته سبب نه لري
لـکه چې بې اوبو ژوند کب نه لري

خپر د حساب که دلته څوك نه لري
څـه داسې نه ده نو چې رب نه لري

خـــدایه زه چاته لاس د مینې ورکړم
داسې به څوك وي چې مطلب نه لري

---

موږ نابود یو، موږ میرات یو، خدایه سوله
ورته تږي دومره زیات یو، خدایه سوله

په نړۍ کې د هر ملك د بنکلا ګانو
سرسایه یو او زکات یو، خدایه سوله

دلته جنګ واړه وګړي دي خپلي
دا چې داسې مات رامات، یو خدایه سوله

## نظم

لکه زوړ زخم چې بېرته وازه خوله کړي
هر څرېکه مې تر زړه پورې رسيږي
دلته زړونه دي وعدې د جينکيو
په عادي بهانه لس وارې ماتيږي

لکه زوړ زخم چې بېرته وازه خوله کړي
نه يې چل نه يې دوا د ښه کېدو وي
نه بايللو ته جوګه وې چې خان بايلې
او نه خان درياتې هېڅ د سپېمدو وي

لکه زوړ زخم چې بېرته وازه خوله کړي
شړ شړ توی پکې شراب کړې قرار نه شي
د پردي غوندې دې وګڼلم شاباس
خانه تاته مې دې بيا هم ازار نه شي

لکه زوړ زخم چې بېرته وازه خوله کړي
يوه هيله دې د مخ اوختو نه وي
ژوند دې سور دوزخ په خان وي کرخولی
او په وينو کې دې ګډه سره لمبه وي

لکه زوړ زخم چې ببرته وازه خوله کړي
له دنیا او د هر چا دې تمه پرې وي
په مات زړه دې د ناکام خندا جاري وي
خو په زړه کې دې رواني غرغرې وي

پېغمبر نه يې، ملايکه نه يې، خدای نه يې
تبنته، خپل کار دې کوه، درومه، دومره شی نه يې

سپيه! په خپل سپيتوب وباسه شکر، ځکه ته خو
سپی يې، د ځينو انسانانو غوندې سپی نه يې

په مودو پس زنګ ورته وشو، ما وې پېژنې مې
له کبره موسکه په نخول شوه وېل يې، دی نه يې

هوښيار يې ځکه لېونيه چې هوښيار نه يې
لېونی ځکه يې هوښياره لېونی نه يې

د زمانې روايتونه دې چې مخه ډب کړي
په عشق کې دا پښتو که وپالې سړی نه يې

دومره خوږه ولې يې، هن! دومره خوږه ولې يې
چې بوره نه يې، ګوره نه يې، ګوړپای نه يې

ويل يې په خدای که دا کيسه مې چاته کړي وي
تاته يې ځکه کوم، ته خو څه پردی نه يې

همدرده ته د مجسمې مينې جوړ شکل يې
ته مشخص اېله د خوست نه يې، تنی نه يې

دوی چې هندارو ته په زړو کې نيت د کانې لري
ادمه! تخم دې ازغي ازغي معانې لري

زه د يعقوب غوندې په بوی دې حس کوم راخې به
که فاصلې څو خاموشۍ او کونې ګانې لري

دا زيړې پانې په الهام زموږ له درد ښکلي دي
توپير د ښکلي بدرنګ نوم د زيړې پانې لري

په شمېر پينځه ورځې هغه هم له باور پرته
ژوند يو څو ساه وې د ميراته کور خورلنې لري

هغه واده جينۍ دې خدای هغسې مسته لري
مسته دې هغسې خوږونه مست د زانې لري

مسته موسيقي ده، سرورت دی خو البته چې
ژوند هم د رنګونو کيفيت دی خو البته چې

کاش چې شيبه پس دلته له هرې خوښۍ غم نه وي
ژوند ته هم يا ژونده ضرورت دی خو البته چې

دلته د نفرت نوم اوس په زړه مې ځای موندلی دی
تريخ نوم او بدرنګ نو محبت دی خو البته چې

هغې ته زما اخلاص او خپلې جفاګانې ياد
ښه سم خپل ضمير ته ملامت دی خو البته چې

زه او هغه هېڅ په يو او بل بې باوري نه کړو
بس د يو سړي مزاحمت دی خو البته چې

نن که په وخت راغلې نو همدرده نازوم به دې
نن مې د يوې لوېې سخا نيت دی خو البته چې

ته لکه سیوری تر هر چا رانږدې یې خو مګر
بدنصیبي دا ده مدام را سره خوا کې نه یې

اوس به مې بیا درته په زنه لګول غاښونه
شکر چې بچ شوم له الزام، را سره خوا کې نه یې

زما مزاج په هغه ورخ له مانه څله پوښتې
کوم شیبه مې چې ته پام، را سره خوا کې نه یې

اخ نن دې ښه ارمان راغلی څه سکنی ماښام دی
اخ مست خمار او د ډک جام، را سره خوا کې نه یې

نېك نامي ورکه شوه شاعر یمه بدنامه خوښ یم
کاش وای یو ځای دواړه بدنام، را سره خوا کې نه یې

بې له تا مړی یمه دومره خو پوهېږم په ځان
همدرد اخیستی نشم ګام، را سره خوا کې نه یې

دومره بې وسه یم له خپله ځانه کرکه لرم
خو شکر بیا اراده غر، تر غر هم کلکه لرم

مزدور یم نه یم کافر ما غریب نو ولې وژنې
کور کې یوه پېغله خورکۍ، کونډه ادکه لرم

نه مړه نه وایم چې زه غریب نو څوك لرمه
جهان زما دی زه چې ستا غونډې نازکه لرم

د پښتنو د ښېلدلو ډار په سترګو وینم
څو چې د ښورنډ لرم او څو چې تا اټکه لرم

توپکه تا خو بې پښتو کړو پښتانه دې نه کړو
نو بیا دې ولې ساتم تا ولې توپکه لرم

هو چې صوفي یم دا کیسه ما سره ښه نه ښکاري
خو دومره ده چې لا یوه دانه ښېشکه لرم

همدرده ولې یم اغزی د هر سړي د سترګو
پښتونستان یمه نه جهاز، نه الوتکه لرم

دا څوک په دغه نیمه شپه شپېلۍ کې غزل وايي
راهب وخت، تهجد کې د غره ژۍ کې غزل وايي

اخ ځار يې شم مين دی ښايي يار يې وي بايللی
اخ داسې څوک په کړسنده سلګۍ کې غزل وايي

نو ته ولې يې ګونګه نو ته يې له چانه کمه
خو پېغلې مکتبۍ خو په ياري کې غزل وايي

نو نه کنه ته هم ترې د جرات غوښتنه مه کړه
شرمیږي چې مخ پټ کړي په مرۍ کې غزل وايي

کيسه د شيرينۍ او مومن خان يې کړه صياده
څوک ناسته لاس تر څنې په مانۍ کې غزل وايي

اواز د شنو ښترو د رباب غونډې خوږيږي
کوچۍ په تنور ناسته په کيږدۍ کې غزل وايي

د خيال پاچا له غلامۍ نه دې ازاد نه شومه
له ما هم هېره نه شوې تاته هم درياد نه شومه

خدايه چې ما د شاعرۍ سره به سمه غوښته
خدايه مراد مې و نو ولې يې مراد نه شومه

اوس مې په خپل مينتوب شك شو، ښايي نه يم مين
په بېلتانه دې چې ذرې ذرې باد باد نه شومه

وايي چې اور سوي مستو ته هم پوكۍ وركوي
نو څكه زه هم كه اباد نه شوم برباد نه شومه

خدايه اقل دومره خووگير د اكثريت په وړاندې
سره له دې چې د هېواد وم، د هېواد نه شومه

همدرد بس خپل باور خوړلی يمه څكه خو هم
دا چې بې شته يمه بې څوك يمه بنياد نه شومه

ستا د قدم کړپ او زما د زړه ټکان ولې
نو انسان ولې متاثر شي له انسان ولې

د بعضو خلکو خندا هم له مجبوریت څخه
موږ ساده خلك سمدستي يې کړو جانان ولې

اوس نو د اهل حقیقت خواب به څوك ورکوي
چې ستر ګور دې شي رندو پسې روان ولې

ښايي چې وتی د خپل خان له دایرې یمه
ګني پردی پردی ښکاريږي راته خان ولې

دا حق خو موږ لرو باید د زړو تاوان راکړي
خوبان له موږ څخه د څه غواړي تاوان ولې

همدرد خو اوس هم لا هغسې یم همدرد پاتې
خو نه پوهېږم رانه بېل چې شول یاران ولې

پس له خفګانه زه او ته مګر لفظونه ګونګ وو
څه ګونګ ماښام، ګونګه تیاره او دېوالونه ګونګ وو

ما او تا یو بل ته کیسې تولې په سترګو کې کړې
لاسونه ګونګ او ژبې ګونګې وې او زړونه ګونګ وو

زما د زړه د درد احساس څکه هېچا ونه کړ
دردونه ګونګ وو، پښتانه وو، پرهرونه ګونګ وو

ښایي زموږه ننداريې ته دوی وو، واړه غلي
ګودر هم ګونګ، ستوري هم ګونګ او چینارونه ګونګ وو

موږ دې الزامه له ویلو بلا خوند اخیستی
خلکو ویل، موږ اوریدل خو موږ ځانونه ګونګ وو

همدرد دې نوې جنډې ورېږم د خاورو خړ مزار ته
خوب مې لیده چې په مزار دې بیرغونه ګونګ وو

د عشق تبرك دا چې ملامت يې سلامت وي
د عشق تبرك دا چې سلامت يې ملامت وي

واه څه کوې له مانه پر غومبرو زړه سوي غواړې
دا شوي، چې شيدې دې پر پيشو چا امانت وي؟

نو ته دا چې د مينې ګناه چېرته سرې وکړې
چې ژوند دې له محشر، محشر له ژونده عبارت وي

زموږ په خبر بې لارې خلك مه رابولئ لار ته
پر ځينو بغاوت او ځينې جوړ پر بغاوت وي

زه نه وايمه دا چې په ګناه لذت حاصل کړئ
مست وواسئ، مستي وکړئ که څه هم عبادت وي

د پور د لنډيدو لپاره بل ځای مې را قرض کړې
منې ګوتمې ګړې يې رانه ايښي ضمانت وي

هو لېونتوب همدومره او مينتوب همدومره
نه سړيتوب همدومره او سړيتوب همدومره

بس اېله وېره وېره، حراميتوب همدومره
د خدای جنت همدومره، د خدای مکتوب همدومره

جار د روژې د ګرمۍ، د غرمې خوب همدومره
ستا پېغلتوب همدومره، زما زلميتوب همدومره

خپل زړه په بل چا سپارل، کم عقلتوب همدومره
دا ساده توب همدومره، او ماشومتوب همدومره

هم له ساقي نه قربان، او هم ملا ته سلام
مسلماني همدومره او بيا خرتوب همدومره

یو درد اخیستی یم، بیخي یې داسې کړی یم چې
چې چېرته یم نه یم په کومې خوا یې وړی یم چې

ژونده په خدای لکه د بل کوم پوروړي ضامن
زیاتې یې څه کوې خو دومره درنه سترړی یمه چې

ورغلی هم ومه او تش، خوله مې ترې وانخیسته
لعنت پر ما چې داسې یم او دومره مړی یم چې

زړه مې پرې چوي، طالب هم او عسکر هم پښتون دی
خو ستر کافر زه یم، د ښه امن ملاتړی یم چې

دا خو یو تاته مخامخ خبرې نشم درکړی
ګني په ګپ کې ومنه دومره پیاوړی یم چې

تر څنګ مې نه یې، هېر مې یې تا به څکه ویل
نه به وم، وم به زه د داسې تخم زړی یم چې

څه د ترخو تجربو نوی انداز بیا پیل دی
بس زه د اور د ابتدا هغه سرګړی یم چې

د غمه ډکه خوله، تر ننه پورې یه خدایه
له هغې ورځې نه دنیا ته مور راوړی یم چې

محشر قايم دی، دا دی روان دی
وربت يې کړم، سوځم د اور باران دی

خوښ مې يو نه دی، دويم به څه وي
ژوند هم تاوان دی، مرګ هم تاوان دی

ته چې خفه يې ژوند هم ولاړ دی
اوس چې راځې ته، ژوند هم روان دی

خولې خولې يم د ډار يخني ده
تاته درځمه، د زړه ټکان دی

عسکر مې متهم، طالب مې زړه دی
هر چې مري، مرمه، دواړه مې ځان دی

د مات زړه غږ یې له سندرو ځینې ساز هم یې
غزل یې ته د مستترې ښکلا راز هم یې

دا هم کیسه ده چې د هرې کیسې وسط ته یې
هره کیسه کې اختتام ته او اغاز هم ته یې

خوند کوي دا لاشعوري دې له شعوره سره
خبر هم یې او بې خبر له خپل انداز هم ته یې

د وخت حاکم هم یې، حاکم دې هم محکوم کړ د خان
محمود هم ته یې، ته محمود ته یې ایاز هم ته یې

زما غزل ته یې همدرد هم ته یې، درد هم ته یې
دې زلمکیو ارمانونو ته آواز هم ته یې

دلته کله حرامیږي، خال خال وینې
دلته څومره نور بهیږي خال خال وینې

د وطن کاڼي د پښغلو په ځېر خوی کا
په تندي یې معلومیږي خال خال وینې

دې جینۍ ښېگاه زیښبلي د مین زړه
چې په شونډو یې ښکاریږي خال خال وینې

فرښتې په تقدیر ژاړي د دې قام به
له اسمانه را څڅیږي خال خال وینې

ښایي ته هم د الفت په عظمت پوی یې
اننگو کې دې نڅیږي خال خال وینې

## نظم

دا څو شپې مسلسل سندرې اورم
دا څو شپې مسلسل هندي فلمونه
ګورم د مینې ناولونه لولم
دا څو شپې مسلیل پنسل راخلم
توره رنګه اخلم
زما د نوټ پر کاپۍ
کړم د چا سترګې انځور
دا څو شپې مسلسل په چیغو چیغو
دا څو شپې مسلسل د ښار اطاق
دا څو شپې مسلسل همدلته اوسم
ور مې په خان پسې کلف کړمه
او په چیغو چیغو
چیغو چیغو
وژړامه، وژړامه
دا څو شپې مسلسل بیا په زړه کې
دا څو شپې مسلسل څو مثبت خبرې
دا څو شپې مسلسل یې اورم ژاړم
دا څو شپې مسلسل تهجد کومه
زنګ ورته وهمه
جانه خو و مې ښنه
زه هم انسان یم کنه

دا څو شپې مسلسل خپل خان ته بنبري
دا څو شپې مسلسل مایوس یمه
دا څو شپې مسلسل قیامت دی په ما
دا څو شپې مسلسل مې ونه لیده
مایوسه شوی یمه
له زنده ګۍ څخه
له زنده ګۍ څخه

د خوانۍ نذر په خمار ماښامه غوارې درکړم؟
تتې تیارې د ژوند اختیار ماښامه غوارې درکړم؟

دا په سپینښت پسې روان ستا قدر نشي کوی
او زما ساه غوارې درخار ماښامه غوارې درکړم؟

تا وصل راکړ، ګیلاس راکړ، یو جهان مننه
څه مقابل کې د دې کار ماښامه غوارې درکړم

ماښامه اې ماښامه خار ماښامه و ماښامه
په خاموشۍ کې واره ښار ماښامه غوارې درکړم

غر مې په شتون چې نه درنيږي، بيا دې سپک ولې شي
زړه چې د ګل په شان نازک وي، نو بيا کلک ولې شي

د کوټې چت کې چې کړپ کيږي خو نو هسې کيږي
زما غوږونه ولې وريږي او څک ولې شي

ښايي په حسن يې کامل کامل ايمان راوړي
خو نه پوهېږمه په خپل وجود مې شک ولې شي

زۀ درته سل پوره کتابه کړم تمام د مينې
ښکليه د کوم انصاف او خورې په يو چک ولې شي

همدرده بې جرمه دې ولې يو څوک وخوريږي
همدرده ولې دې بندي شي او ولچک ولې شي

ډکې د اوښکې لیمې، لکه په جام کې شراب
نن په سر اړومه، بیا په ماښام کې شراب

بزرګه دي د کوم انصاف تورې کوټې ته ولاړ
په عبادت کې ګناه او په احرام کې شراب

نن هوشه کډه کوم در څخه خم خو راځم
نن روا شوي دي پر ما د چا الزام کې شراب

ولې مې وتمبوي، خو بس همدا کیسه ده
خدایه ګډ کړي دې دي، د چا په نام کې شراب

ربه ما مه پرې نیسه، ربه زه ګرم نه یمه
ربه قربان دې شمه، نن ښبنم ناکام کې شراب

د ژړو غنمرنګو مینه ماته یې په تا ده
تومبي په سپینو غاړو دې لونګه بختوره

د کلي جینۍ تولې دي کچکول اچوي خیر
نور څۀ غواړې نیکبخته یا ملنګه بختوره

بې باکه بوسې اخلي ترې هغه چې خي ګودر ته
یه باده بختوره مینه یې ګونګه بختوره

منګیه مازدیګر درسره بېرته پخلا کیږي
د کلي لېونی دې دی په ننګه بختوره

که لاس مې در وړی نۀ شوی خو چې ځنګ کې یې همدرد وای
چې سیوری دې وای تل دې وای ترځنګه بختوره

ستا ماته ږمنځ او آيينه نور څو ننباني راسره
او يو تصوير د غرېو د وخت د مخه ښې راسره

تنهايي، تهٔ مې يې تر بل هر چا نږدې ملګرې
روح که مې لاړ هم شي خو تهٔ به بيا هم وې راسره

په خدای د خدای د مسکا کيف و ښکارېدلو پکې
ذکر مې کړو سهار مورکۍ وې ستا تسپې راسره

بېګا نامردې ستا کيسه مې په کاغذ ليکله
بيګا نيولي وه سلګو ژړل د هوې راسره

د ورور وژنه يې پښتو سپيڅلي مينه جرم
پښتو دې سر وخوري راځه راځه که څې راسره

حريصه نه يم خدايه زهٔ يې شپې ته نهٔ غواړمه
خو زړهٔ همدرد مې کاشکې وای يو څو شيبې راسره

زړه پلورمه او بیا نن اعتبار کومه خمه
ترڅو به دا ژوند داسې خوار و زار کومه خمه

د هر خلې راتګ سره دې دا کیسه په خوله وي
مورکۍ یوازې پاتې کور کې کار کومه خمه

هغوی کره به ښایي بیا همزولي وي را ټولې
ترڅو به زه نو ستړی انتظار کومه خمه

یو کانی په بل وولي لمبې ترهنه را ووځي
صحرا یوازېتوب دی او آزار کومه خمه

چې نه منې خبره دا خبره به منې اوس
ملا ته خم تعویز دا ستا په پلار کومه خمه

چې ځنګه کیږي ګورم یې نن ټوله پرې کومه
را پاڅم ترې له مینې یې انکار کومه خمه

له نن وروسته همدرد به ګورې چېرې همدرد نه وي
خویونه ستا د کلي ستا د ښار کومه خمه

ستا د ليدو وروسته بيمار يمه په سور نۀ يمه
له زنده ګۍ خپنې بېزار يمه په سور نۀ يمه

بيا مې نشو ته مخه کړي ژوند په هوش نۀ کيږي
چې دا ناچار يم که ناکار يمه په سور نۀ يمه

مخ رانه مه اړوه ښکليه د ثواب نيت يمه
زۀ د مين د ګل ګوزار يمه په سور نۀ يمه

مره پريږده شېخه زۀ نور کله په واك يم داسې
هسې خو هم غټ ګناهګار يمه په سور نۀ يمه

وخت هم د زلفو په څېر بار راته پر دغو اوږو
که يې نن زۀ په اوږو بار يمه په سور نۀ يمه

ګله چې تۀ له کومو خلکو خپنې بده منې
ستا همدرد هم د هغه ښار يمه په سور نۀ يمه

تهٔ خلك څهٔ کوې را درومه په بلا یې وهه
نده د مرګ نېټه معلومه په بلا یې وهه

د بوډۍ مور د ویښېدو ویره مې مه کړه کنه
هغه بوډۍ په ژوند مرحومه په بلا یې وهه

خدای ته یې پرېږده خدای دې شته مایوسه کېږې ولې
غږ دې څوك نهٔ اوري مظلومه په بلا یې وهه

تهٔ خلك څهٔ کوې ظالمې هله مرمه کنه
دا انتظار اخر تر کومه په بلا یې وهه

په خدای چې اوس مې هم د ځان سره سمبال ساتلې
ستا آئینه او ستا لجرومه په بلا یې وهه

همدرده شعر ته دې د درد مطالعه په کار ده
نو چې په درد نهٔ وي منظومه په بلا یې وهه

ګرانې د ګران لفظ دې اوس دی راته ګران دومره
لکه د مور د شفقت غېږ لکه ایمان دومره

چې لمدې زلفې د یو بل په مخ ښې وموښو
پروردګاره تم دې نهٔ شي دا باران دومره

ما سره ستا د رسوایۍ او د پښتو غم دی
خدای که زما به زړهٔ بدیږي پخپل ځان دومره

اې ته باور وکړه له دې هم راته ښکلې یې
لکه د خدای په کایناتو کې ګلان دومره

ته دومره خوږ یې چې د نوم سره دې ژبه خورم
ته وا خدای داسې خوږ به بل هم وي انسان دومره

په خپل جنون یې ارتقا ته رسیدلی یمه
جانانه ته ماته زه تاته رسیدلی یمه

عجیبه دا وه ما خبره ورته پیل نه وه
ویل یې زه یې انتها ته رسیدلی یمه

پوره به نه وي په تول ستا د حسن واړه جمله
خو په غزل کې دې ښکلا ته رسیدلی یمه

دا معجزه د محبت مې کړه ظاهره درته
چې په ژړا کې دې خندا ته رسیدلی یمه

د مازدیگر ښایست وم وړانگې مې راټولې کړلې
سکنی ماښام یمه بېگاه ته رسیدلی یمه

زه مې له ځانه دومره لرې اوس راغلی یمه
یا خدایه ورك یمه که چاته رسیدلی یمه

که د هېچا نه یم همدرد خو د یو چا خو یمه
د چا دې نه یم خو اشنا ته رسیدلی یمه

پام ګوره زړونه دي چې مات نه شي
لکه ګلونه دي چې مات نه شي

ته دې د خپلې ځوانۍ زور مه کوه
بنګړي لاسونه دي چې مات نه شي

خدایه سالم چې یې لړي سترګو کې
د بُت عکسونه دي چې مات نه شي

د پښتنو شملې دې نه ړنګیږي
دا لکه غرونه دي چې مات نه شي

لږ د هوس جذبې در غلي کړه
د زلفو ولونه دي چې مات نه شي

همدرده زړونه د چا مه ماتېږه
دا سنګرونه دي چې مات نه شي

نجونې زیارت ته خي او ته په کټ بیماره پرته
لکه زخمي مرغۍ، ناهیلې بې قطاره پرته

ته نه زما لیدو ته بیا په دېوال نه شې کوږې
لکه چې وي د بام له سر دېوال ته لاره پرته

خود به د کهف د اصحابو غوندې خوب ور درومي
له مودو وروسته خنګ د یار کې ده بې یاره پرته

دغه لاړ هم د بلا زېو مرګ کې سم لاس لري
ده کومه لاړه چې له دې کلې تر ښاره پرته

یا خو مینه ده او یا پرې چا تعویذ کړی دی
ګټي نو دا جینۍ وي ولې دومداره پرته

ما په دې خوشې بيابان کې بس په خداى وسپاره
نور مې د ورکو په کاروان کې بس په خداى وسپاره

ما د ځوانۍ او د هوس په دغو ګرمو شپو کې
او دې لمبه لمبه ارمان کې بس په خداى وسپاره

مورې هغه نه يو چې يارۍ کې غوارې خير د سر
ګلابه نن مې په تاوان کې بس په خداى وسپاره

نه نه بې غمه اوسه زه دومره بې باکه نه يم
لکه د ځان داسې مې ځان کې بس په خداى وسپاره

که مري خو و دې مري اوس هسې هم پردى شو له تا
ستا لېونۍ همدرد هجران کې بس په خداى وسپاره

مینه یې له زړه راټولومه ترېنه ځمه بس
درد د دې ماشوم مشغولومه ترېنه ځمه بس

دې وطن کې ژوند تر دروغجن هم بې باوره دی
یو خل یې په تنده بنکلومه تېرنه ځمه بس

دا تصویر زما د زندګۍ د واړه هسته زیات
خکه یې په سترګو سولومه ترېنه ځمه بس

پرېږده د بې درده زنده ګۍ څخه همداسې بنه
ژوند په بله بنه پیلومه ترېنه ځمه بس

هېڅ نور ورته نه وایم، خو ډک زړه ورته وړمه او
اوښکې مې لمن کې تلومه ترېنه ځمه بس

نن یې درته وړاندې بیا همدرده لېونتوب کوم
خپل ګرېوان بنه سم ورته شلومه ترېنه ځمه بس

کاسې د سترګو د شرابو لوښې
او د زم زم د چینې سپینې اوبه

مابنام د وصل او په مخ د خوښې
پرخه ده اوزي دې واورینې اوبه

په خدای که سم ورسره ونه ژاړم
نه څښم د هیڅ دښمن په مړینې اوبه

زموږ د ښار ویالو کې یو خاې درومي
اف قیامت دی خدایه وینې اوبه

همدرده دا جینې چې هر وخت وینم
خوله ورته و مې کړې له مینې اوبه

مه خه چې ببرته را ژوندی کړو خینې خینې کیسې
دلته له خلکو هېرې شوي دي، د مینې کیسې

دلته ریښتوني لېوني خو دروغجن هوښیار دي
دلته غلام دي هغه څوك چې کوي سپینې کیسې

رېباره څار دې له خولې زر وایه چې څه یې ویل
هله قربان دې شم کوه یې د شیرینې کیسې

د لارې منځ دی، مه ودرېږه، هسې نه څوك راشي
هله چې خمه زر یې کړه که وي اړینې کیسې

زنه، خال، شونډې او مسکا غزل کې نه ښکارېږي
دلته سندرې غزل هم کړي وینې وینې کیسې

څه دې ویل او له تقدیره دې ګیله څنګه کړه؟
زما همدرد تنې خوارې چې وي چې د مړینې کیسې

زړه ته مې زړه راکړه او مینې ته مې مینه راکړه
د زلفو شړک راکړه او دا سزا سنګینه راکړه

دواړه مې ورونه دي خو فرق یې اېله دومره دی چې
دې یو کتاب راکړ، دې بل بیا توره سپینه راکړه

جنت جنت یې خو ویده یې په تتر د پېغلو
څه عجیبه غونډې خوشبو دې لونګینه راکړه

حق د چا زیات دی ملا چاته ډېره مینه ورکړم
مورکۍ شیدې راکړې او هغې راته وینه راکړه

په خدای دې سپارمه، منګول دې له حلالو ډکه
چاته محتاج مه شې، بچیه لاس شیرینه راکړه

همدرده بیا به درته وایم شوخ غزل د مینې
ته هم هغسې د یارۍ لاس نازنینه راکړه

د محبت ګوري په زهرو د نفرت ککړې
بلها کیسې دي او بلا دي په زحمت ککړې

د یوې پېغلې خوانیمرګ ارمان ویده دی پکې
د زړه په وینو یې جنډې دي د زیارت ککړې

زما له نومه اوس انکار درته فایده نه کوي
اوس دې لمنې هسې دي زما په تهمت ککړې

ملا د کلي وم خو تا پکې خطا ویستمه
په مصیبت دې کړم ککړ په مصیبت ککړې

مورکۍ له تندې دې انوار او رحمتونه اوري
په ښکلاګانو ښایستونو د جنت ککړې

همدرده کور ته ښه په وخت اول ماښام رادرومه
د شپې ونه ګرځې تیارې دي په وحشت ککړې

اوښکې اوښکې شې را اورې پناه کیږي
ستا کیسې او یو څو تورې پناه کیږي

مازدیګر څه د مغرورې پیغلې خوی کړي
مخکې څې په شاه راګورې پناه کیږي

نور مې پرېږده څوك به راشي لېونیه
شپه رخصت اخلي او ستورې پناه کیږي

اوس وتلې یې د ژوند له دایرې یم
رانه اوس د تن په سیورې پناه کیږي

نوم یې نه راځي خو هسې راته ګران دی
دلته ښورې او را ښورې پناه کیږي

بیا یې ولید لېونی همدرد چې راغی
خدایزده بیا به په کوم لورې پناه کیږي

په افق د زمانې د وينو څاڅکي
سره غمي دانې دانې د وينو څاڅکي

پکې راز د دوو مينو زړونو پروت دی
په رومال د يارانې د وينو څاڅکي

ملا ښايي چې ايمان دې سلامت شو
توی دې کړل په بُت خانې د وينو څاڅکي

بې ارزښته د پښتون مظلومه وينه
په روپۍ او په انې د وينو څاڅکي

نن شرابو هم د وينو رنګ اخيستی
په هر جام د ميخانې د وينو څاڅکي

**د ګودر په چنارونو پورې ښخ وو**
**ها د پېغلې پښتنې د وينو څاڅکي**

**هر غزل هر سندره اوس همدرده**
**اوس هم وايو ترانې د وينو څاڅکي**

دوی چې بې مینې دي او دوی چې محبته ښکاري
ښکلو ته څکه زموږ زړونه بې قیمته ښکاري

کونډه مورکۍ د پیغلو لوڼو د عزت په خاطر
کډه کړي کور یې چې د خان له دریم چته ښکاري

ښایي چې دوو مینو دلته ده خپمه راوړي
رڼا ښکاریږي د ډیوې خو ډیوه تته ښکاري

بیګاه په خوب کې دومره بره وم ختلی پکې
لاندې مې وکتل چې ستوري راته ښکته ښکاري

جاپان ته وګوره تر کومه ځایه ورسیدهٔ
دا خپل وګړي راته څکه بې همته ښکاري

همدرد باور پرې کړی، دې ور څخه زړه غلا کړی
راته دا پیغله ملامته ښکاري

لکه پېروتې چې له ګله بند په بند تاو وي
خوب مې لیدو چې ستا له غاړې مې مړوند تاو وي

څنګه به نیت او اراده د یارۍ وکړو پکې
چې د رواج دغه خنځیر له هر یو خوند اخلي

اخ بېوسي څه ښکلي خوان ارمان زنده ګې
سپینو کالو کې یې افسوس چې تور پیوند تاو وي

همدرده څنګه بیا په بل چا بیا ګمان وکړمه
د چا یادونه دې له زړه نه چې څرګند تاو وي

## نظم

زجر مستې زمانې لحظه لحظه دې
ته وا خدای له قیامته ډېر غصه دی
هر انسان ته ژوند قاتل د ځان جوړ شوی
لېونی ملنګ پاچا هر یو خفه دی

زجر مستې زمانې لحظه لحظه دې
لکه ګونګ کوڼ لېونی ورك شي له کلي
برخلیك دا رقم ګمنام د دې وطن
هدیرې شوې خاطرې خاطرې ځلي

زجر مستې زمانې لحظه لحظه دې
لکه څوك چا وي د خدای په نوم تاکلی
زجر مستې زمانې څوك پاتې نه شو
له الزامه که بدرنګ دي او که ښکلي

زجر مستې زمانې لحظه لحظه دې
د فرید ملګري مړه په خوب لیدل دي
ژوند په دې وطن کې جبر په خپل ځان دی
ژوند د سترو هیلو قتلول دي

# نه غواړې؟

نه غواړې؟ چې ښه شمه په ډکه خوله خندا وکړم
نه غواړې؟ چې بېرته شاهانه ژوند په دنیا وکړم
نه غواړې؟ چې نور راسره واوسې او پاتې شې
نه غواړې؟ اړتیا نشته چې دا وکړم یا دا وکړم
نه غواړې؟ یو مات انسان چې بېرته ژوند ته ستون شي
نه غواړې؟ چې بیا درسره زړه په زړه سودا وکړم
نه غواړې؟ ما خلاص د بیابان له پېغورونو کړې
نه غواړې؟ چې بېرته لېونی شم انتها وکړم
نه غواړې؟ چې لمر له تندریزې تیارې خلاص کړې
نه غواړې؟ په خپل تیاره وجود کې مې رڼا وکړم
نه غواړې؟ چې نور مې په شعرونو کې ځان ووینې
نه غواړې؟ لالیه چې تېپې درسره بیا وکړم
نه غواړې؟ سپرلی مې د مالګینو پرهرونو
نه غواړې؟ شرمېږې نه؟ چې تا پسې ژړا وکړم
نه غواړې؟ چې زه له انتخابه منندوی شم
نه غواړې؟ چې ځان ته مې ازار ازار دعا وکړم

نن مې ګاونډ کې د غربت پېغور تربور راکړ
لکه د مور د جنازې هومره یې زور راکړ

غم دې نور څه وکړل له ځانه یې جامې وویستې
که یې په سترګو کې تاثیر راته د اور راکړ

د مینې لېچې مې نیولې دښمنانو ته دي
جار لېونتوبه تا څه بل شانتې غرور راکړ

د سترګو تور که مې شي سپین پروا یې مه کوه
الزامه تور دې بس زما د سترګو تور راکړ

ملګرې دا رقم بې خوا بې تمنا لاندې کړم
علاج مې نه شي کیدای داسې تک منګور راکړ

نشه یمه پیاده ښار کې روان یمه ماښام دی
خپل ځان ته له خندا شین یم، حیران یمه ماښام دی

ما څه کوې قربان، که ښه وای نه پرېښوم یارانو
چې پرې یښوم نو پوی شه چې تاوان یمه ماښام دی

کاکا یوه ډوډۍ د خدای په نوم خو راته راکړه
یتیم یم نابلد یم خو انسان یمه ماښام دی

تر دې حده بې هوشه یم خو بیا پولې ساتم
چې یم نه یم پر ځان مې بدګومان یمه ماښام دی

بس تا چې په سحر کې راته کړې ده ښېرا
هغې ته لا هم مړې پرېشان یمه ماښام دی

پرون ماښام چې تا ویل همدرده زه و خدای
نن هغه رقم کټ مټ ستا په شان یمه ماښام دی

له ځانه ستا د جفا غچ او انتقام اخلم
د خپل وجود د اذیت ځیني ارام اخلم

لکه اولې تنکۍ پېغلې، د درد څرېکې مې
په ډوبه غرقه نشه بیا یو جور ماښام اخلم

دا مسلمان ډېر یم که یاره ګمراه شوی ډېر یم
پېښك هم د خدای په نوم کامل په احترام اخلم

هغه چې وې یې چې ته نه یې، ځان وژنه کوم
نه سلام اخلي نه یې کړي، نه یې سلام اخلم

د پرمختګ د زینې دا مصیبت ډېر بد دی
سل بلاګانې را پیدا شي چې یو ګام اخلم

هو پر ما مرګ! په کومو سترګو دې درخم مخ ته
هو پر ما مرګ! په کومو سترګو دې بیا نام اخلم

لکه همدرد داسې ناڅاپه اوښکې وڅڅوم
ځان سره هم چې هغه ټکي د الزام اخلم



زما او ستا هغه شريکو تصويرونو باندې
هغه ليکلې خاطرې مې بيګا بيا ولوستې

تا چې زما په کتابونو وې ليکلې ماته
هغه غزلې او ټپې مې بيګا بيا ولوستې

له اذيته يې خوند اخلم نفس تنګون کومه
کيفيتونه او معنې مې بيګا بيا ولوستې

دا دوه رنګۍ او بدرنګۍ او ليونۍ همدرد
دغه قضيې د زمانې مې بيګا بيا ولوستې

**پای**